# التوبة

**مدنی سورة دی ۱۲۹ آیتونه لری**

بَرَآءَةٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿١﴾

**دا د الله او د هغه د رسول له لوری هغو مشرکینو ته چې تاسو ورسره( غیرمیعادی)تړون لری،د بیزاری(صاف او صریح)اعلان دی.**

فَسِيحُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِى ٱللَّهِ ۙ وَأَنَّ
ٱللَّهَ مُخْزِى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢﴾

**نو( ای مشرکینو تاسو ته اعلانیږی چې مونږ وروسته له دې، معاهدې ته دوام نه ورکوو او ماتوو یې) تاسو ته د حرام څلور میاشتې وخت درکوو چې په( پوره آزادۍ او ډاډ په دغه) ځمکه کې ګرځۍ راګرځۍ( او تصمیم ونیسۍ چې یا به په اسلامی اخوت کې داخلیږۍ او یا به د ایمان او توحید له دې مرکزه وځۍ او ملک به پریږدۍ او یا به د جنګ لپاره تیاریږۍ) خو وپوهیږۍ  چې تاسو الله پاک ته هیڅ زیان نشۍ رسولی( او د ارادې مخه یې نشۍ نیولی، که ایمان را نه وړۍ نو) الله تعالی به مو( په دنیا او آخرت) خوار او  ذلیل کړی.**

وَأَذَٰنٌ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦٓ إِلَى ٱلنَّاسِ يَوْمَ ٱلْحَجِّ ٱلْأَكْبَرِ أَنَّ ٱللَّهَ
بَرِىٓءٌ مِّنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ۙ وَرَسُولُهُۥ ۚ فَإِن تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۖ وَإِن
تَوَلَّيْتُمْ فَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِى ٱللَّهِ ۗ وَبَشِّرِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟
بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣﴾

**او د الله تعالی او د هغه د  پیغمبر له لوری یې، نن د حج اکبر په ورځ ټولو خلکو ته اعلان دی چې الله او رسول یې  له مشرکانو( او د هغوی له معاهدې نه)  بیزاره دی. خو که (له شرک او خیانت نه)  توبه وکړۍ (او مسلمانان شۍ نو دا ستاسو لپاره غوره ده او دنیا او آخرت به مو نیکمرغه شی)او که د مخالفت او خیانت لاره ونیسی نو پوه شۍ چې الله تعالی ته هیڅ زیان نشۍ رسولی( او نه هغه الهی تصیم بدلولی شۍ چې د شرک او**

کفر څخه د جزیرة العرب د تطهیرولو لپاره نیول شوی دی) او( ای پیغمبره!) کافرانو ته د دردناک عذاب زیری ورکړه.

إِلَّا ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّم مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ثُمَّ لَمۡ يَنقُصُوكُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَمۡ يُظَٰهِرُواْ عَلَيۡكُمۡ أَحَدٗا فَأَتِمُّوٓاْ إِلَيۡهِمۡ عَهۡدَهُمۡ إِلَىٰ مُدَّتِهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُتَّقِينَ ٤

خو هغه مشرکان چې تاسو ورسره تړون لرئ( او د تړون له هیڅ شرط او مادې نه یې) سرغړونه، نه ده کړې، او ستاسو په ضد یې( ستاسو له کوم دښمن سره) هم لاس نه دی یو کړې، نو تاسو ورسره تر ټاکلې نیټې پورې پخپل تړون او تعهد وفادار پاتې شئ، ځکه الله تعالی له ( د بدعهدۍ نه له ځان ساتونکو) پرهیزګارانو سره مینه لری.

فَإِذَا ٱنسَلَخَ ٱلۡأَشۡهُرُ ٱلۡحُرُمُ فَٱقۡتُلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ حَيۡثُ وَجَدتُّمُوهُمۡ وَخُذُوهُمۡ وَٱحۡصُرُوهُمۡ وَٱقۡعُدُواْ لَهُمۡ كُلَّ مَرۡصَدٖۚ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَخَلُّواْ سَبِيلَهُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٥

خو کله چې د حرام میاشتې پای ته ورسی، نو هر ځای چې مشرکان پیدا کړئ ویې وژنئ، ژوندی یې ونیسئ او محاصره یې کړئ او په هر ځاو او کمین کې ورته کښینئ. خو که یې توبه وکړه، لمونځونه یې وکړل او زکاتونه یې ورکړل نو خوشې یې کړئ، ځکه چې الله تعالی ښښونکی او مهربان ذات دی.

وَإِنۡ أَحَدٞ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٱسۡتَجَارَكَ فَأَجِرۡهُ حَتَّىٰ يَسۡمَعَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ثُمَّ أَبۡلِغۡهُ مَأۡمَنَهُۥۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا يَعۡلَمُونَ ٦

او که کوم مشرک ستا نه پناه وغواړی، نو پناه ورکړه تر څو د الله تعالی کلام واوری. بیایې خپلې د امن ځای ته ورسوه ځکه دوی داسې ډله ده( چې په حقایقو) نه پوهیږی( او کیدی شی ستا په پناه کې، د حق کلام په اوریدو په اسلام مشرف شی).

كَيْفَ يَكُونُ لِلْمُشْرِكِينَ عَهْدٌ عِندَ ٱللَّهِ وَعِندَ
رَسُولِهِۦٓ إِلَّا ٱلَّذِينَ عَٰهَدتُّمْ عِندَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ ۖ فَمَا
ٱسْتَقَٰمُوا۟ لَكُمْ فَٱسْتَقِيمُوا۟ لَهُمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿٧﴾

ولې د الله او رسول په نزد د دغو( وعده خلافو او عهد ماتوونکو) مشرکانو لپاره عهد او تړون محترم وګڼل شی( یعني هیڅ ارزښت نه لری) پرته له هغو( عربی قبائلو) چې د مسجد حرام په څنګ کې یې ستاسو سره تړون کړی( او پخپل عهد او پیمان ولاړ هم دی) نو تر هغه چې دغه قبائل پخپله وعده پابند وی تاسو هم ورسره په عهد او پیمان ټینګ ودریږئ ځکه الله تعالی(له بې وفایی نه ځان ساتونکی) پرهیزګاران خوښوی.

كَيْفَ وَإِن يَظْهَرُوا۟ عَلَيْكُمْ لَا يَرْقُبُوا۟ فِيكُمْ إِلًّا وَلَا ذِمَّةً ۚ
يُرْضُونَكُم بِأَفْوَٰهِهِمْ وَتَأْبَىٰ قُلُوبُهُمْ وَأَكْثَرُهُمْ فَٰسِقُونَ ﴿٨﴾

څنګه به د دغو ( عهد ماتوونکو مشرکانو) په وعده او تړون اعتبار وشی، په داسې حال کې چې که لاس یې درباندې بر شی نو نه ستاسو سره د خپلوئ پروا ساتی او نه خپل عهد او پیمان ته ګوری. تاسو په تشو خبرو خوشاله ساتی خو زړونه یې درته له قهره او خیانت نه ډک دی او زیاتره یې فاسقان( او بې ژبې غداران) دی.

ٱشْتَرَوْا۟ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ ثَمَنًا قَلِيلًا فَصَدُّوا۟ عَن سَبِيلِهِۦٓ ۚ إِنَّهُمْ سَآءَ مَا
كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿٩﴾

د الله تعالی آیتونه د دنیا په بې ارزښته ګټو خرڅوی، (پخپله هم ګمراه دی او) نور خلک هم د الله له لارې راګرځوی، څه بد او ناوړه کړه دی چې دوی ورباندې اخته دی.

لَا يَرْقُبُونَ فِي مُؤْمِنٍ إِلًّا وَلَا ذِمَّةً ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُعْتَدُونَ ﴿١٠﴾

**دوی د هیڅ یوه مؤمن په حق کې، نه د خپلوۍ حق پیژني او نه د عهد او پیمان مراعات کوي بلکه له حده زیات تیری کوونکي( او عهد ماتوونکي) دي.**

فَإِن تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ ۗ وَنُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿١١﴾

**نو( که له تړون ماتولو، قطع رحم او کفر او شرک نه) توبه وباسي،( او د اسلامي احکامو سره سم ) لمونځونه او زکاتونه اداء کړي( تاسو هم ورباندې د حملې حق نه لرئ ځکه) دوی ستاسو دیني ورونه دي، او مونږ خپل آیتونه هغو خلکو ته چې( واقعیتونه) درک کولی او پیژندلی شي، په بیلابیلو ډولونو تشریح کوو.**

وَإِن نَّكَثُوا أَيْمَانَهُم مِّن بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوا فِي دِينِكُمْ فَقَاتِلُوا أَئِمَّةَ الْكُفْرِ ۙ إِنَّهُمْ لَا أَيْمَانَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنتَهُونَ ﴿١٢﴾

**او که له تعهد او قسم نه وروسته خپل تړونونه ماتوي او ستاسو په دین کې عیبونه لټوي او پیغورونه درکوي، نو د کفر د دغو سردمدارانو په ضد وجنګیږئ ځکه د دغه ډول خلکو لپاره هیڅ تعهد او تړون نشته او کیدی شي( ستاسو د شدت له امله له پیغورونو او غدارۍ نه) لاس واخلي.**

أَلَا تُقَاتِلُونَ قَوْمًا نَّكَثُوا أَيْمَانَهُمْ وَهَمُّوا بِإِخْرَاجِ الرَّسُولِ وَهُم بَدَءُوكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۚ أَتَخْشَوْنَهُمْ ۚ فَاللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَوْهُ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٣﴾

**ولې د هغو خلکو په ضد نه جنګیږئ چې تل( او په پرله پسې توګه) په خپلو تعهداتو او تړونونو پښې ږدي،همدوی دي چې لومړی ځل یې ( له مکې نه ) د پیغمبر د تبعیدولو هڅه کوله او همدوی دي چې( ستاسو**

په زورولو او تاسو ته په مالی اوځانی زیانونو اړولو یې) شروع کړې وه. آیا له هغوی نه ویرېږئ؟ که مؤمنان یاست نو باید یوازې او یوازې له الله تعالی نه وویرېږئ او بس.

قَٰتِلُوهُمْ يُعَذِّبْهُمُ ٱللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنصُرْكُمْ
عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُّؤْمِنِينَ ﴿١٤﴾

له هغوی سره وجنګېږئ تر څو یې الله تعالی ستاسو په لاس وزوروی او سپک او ذلیل یې کړی، او تاسو پرې برلاسی او د مؤمنانو( غم ځپلې) زړونه پرې یخ کړی.

وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوبِهِمْ ۗ وَيَتُوبُ ٱللَّهُ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ
حَكِيمٌ ﴿١٥﴾

او( د مؤمنانو) د زړونو تاو او غصه پرې وباسی او هر چاته چې الله تعالی اراده وکړی توبه یې قبلوی( او رحمت او مغفرت وربانډې لوروی) او الله تعالی په هر څه پوه او حکیم ذات دی.

أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تُتْرَكُوا۟ وَلَمَّا يَعْلَمِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ جَٰهَدُوا۟ مِنكُمْ
وَلَمْ يَتَّخِذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَا رَسُولِهِۦ وَلَا ٱلْمُؤْمِنِينَ وَلِيجَةً ۚ
وَٱللَّهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٦﴾

آیا تاسو فکر کوئ چې پخپل حال به پرېښودل شئ؟( او د ازمېښتونو له بټیو به تیر نشئ؟) او الله تعالی به( په علم ظهور سره) هغه کسان په ډاګه نه کړی چې جهاد یې کړی او د الله او رسول او مؤمنانو نه غیر یې، له بل چا سره د پټې دوستۍ تارونه، نه دی غزولی؟( یعنې باید د ازمایښونو له لارې واقعی مؤمنان له نورو جلا او تفکیک شی) او الله تعالی ستاسو په ټولو کړو وړو ډیر ښه خبر دی.

مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَن يَعْمُرُوا۟ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ شَٰهِدِينَ عَلَىٰٓ
أَنفُسِهِم بِٱلْكُفْرِ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَٰلُهُمْ وَفِى ٱلنَّارِ هُمْ
خَٰلِدُونَ ﴿١٧﴾

مشرکان په داسې حال کې چې پخپل کفر( او له حقایقو نه په انکار) ګواهی ورکوی د الله تعالی د جوماتونو د جوړولو او ابادولو حق او صلاحیت نه لری، د دوی ټول اعمال تباه او بابیزه دی او تر ابده به په دوزخ کې استوګن وی.

إِنَّمَا يَعۡمُرُ مَسَٰجِدَ ٱللَّهِ مَنۡ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ
وَأَقَامَ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَى ٱلزَّكَوٰةَ وَلَمۡ يَخۡشَ إِلَّا ٱللَّهَۖ فَعَسَىٰٓ
أُوْلَٰٓئِكَ أَن يَكُونُواْ مِنَ ٱلۡمُهۡتَدِينَ ١٨

د الله تعالی د جوماتونو جوړولو حق او صلاحیت یوازې هغو کسانو ته ورپه برخه دی چې په الله او د قیامت په راتلو ایمان لری، د لمانځه نظام قایموی، زکاتونه ورکوی او له تعالی نه غیر له بل هیچا څخه نه ویریږی.امید دی چې همدغه کسان د هدایت د لارې موندونکی دی.

۞ أَجَعَلۡتُمۡ سِقَايَةَ ٱلۡحَآجِّ وَعِمَارَةَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ كَمَنۡ ءَامَنَ
بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَجَٰهَدَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِۚ لَا يَسۡتَوُۥنَ عِندَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ
لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٩

آیا حاجیانو ته اوبه ورکول او د مسجد حرام ابادول( او خدمت یې کول) د هغه چا له عمل سره برابر دی چې په الله تعالی، او د قیامت په راتلو ایمان لری او د الله تعالی په لاره کې جهاد کوی، دغه دواړه ډلې د الله تعالی په نزد یو شان او برابر نه دی او الله تعالی ظالم او تیری کوونکی قوم د هدایت په لاره نه برابروی.

ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهَاجَرُواْ وَجَٰهَدُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ
أَعۡظَمُ دَرَجَةً عِندَ ٱللَّهِۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ ٢٠

هغو خلکو چې ایمان یې راوړی، هجرت یې کړی او پخپل سر او مال د الله تعالی په لاره کې جهاد ته وتلی، د الله تعالی په نزد د ډیر زیات عالی مقام او منزلت لرونکی دی او یوازې همدوی مراد او بریالیتوب ته رسیدلی شمیرل کیږی.

يُبَشِّرُهُمْ رَبُّهُم بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَٰنٍ وَجَنَّٰتٍ لَّهُمْ فِيهَا نَعِيمٌ
مُّقِيمٌ ﴿٢١﴾

رب يې ورته، د خپل رحمت، خوښۍ او د هغو جنتونو زيرى وركوى چې د دوى لپاره پكې ابدى نعمتونه موجود دى.

خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدًا ۚ إِنَّ ٱللَّهَ عِندَهُۥٓ أَجْرٌ عَظِيمٌ ﴿٢٢﴾

په دغو جنتونو كې به دوى تل تر تله استوګن وى، بيشكه چې له الله تعالى سره لوى اجرونه په اختيار كى دى.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوٓا۟ ءَابَآءَكُمْ وَإِخْوَٰنَكُمْ أَوْلِيَآءَ
إِنِ ٱسْتَحَبُّوا۟ ٱلْكُفْرَ عَلَى ٱلْإِيمَٰنِ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ
فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٣﴾

اى د ايمان خاوندانو! كه ستاسو پلرونه او ورونه( او د كورنۍ هر غړى مو) كفر ته په اسلام ترجيح وركړى نو د خپلوۍ او قرابت ټولې اړيكې ورسره وشلوۍ، او كه په تاسو كې څوک له دغو( كافرو او مرتدو پلرونو او ورونو او خپلوانو) سره د خپلوۍ اړيكې وساتى نو په حقيقت كې به ظالمان او تيرى كوونكى وى.

قُلْ إِن كَانَ ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَٰنُكُمْ وَأَزْوَٰجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ
وَأَمْوَٰلٌ ٱقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَٰرَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَٰكِنُ
تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُم مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَجِهَادٍ فِى
سَبِيلِهِۦ فَتَرَبَّصُوا۟ حَتَّىٰ يَأْتِىَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ
ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٢٤﴾

اى پيغمبره! (خلكو ته)ووايه: كه مو پلرونه، زامن، ورونه، د ژوند ملګرى( ښځه يا خاوند)، خپل خپلوان،په خوارۍ ګټلې دارايى او شتمنى او هغه تجارت چې له كساد او سړښت ويره يې درسره وى او هغه كورونه( او

قصرونه) چې زړونه مو ورپورې تړلی وی، درته د الله او د هغه د رسول او جهاد فی سبیل الله په مقابل کې غوره او مقدم وی نو د الله تعالی د عذاب فرمان ته سترګې په لار اوسئ(او پوه شئ چې) الله تعالی هیڅکله فاسقانو( سرغړونکو) ته د هدایت لاره نه ورښایی.

لَقَدْ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ فِي مَوَاطِنَ كَثِيرَةٍ ۙ وَيَوْمَ حُنَيْنٍ ۙ إِذْ
أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْـًٔا
وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ ٱلْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم
مُّدْبِرِينَ ﴿٢٥﴾

حقیقت خو دادی چې الله تعالی د جګړې په ډیرو ډګرونو او جبهو کې ستاسو مرسته کړې( او د ایمان په قوت یې په دښمن برلاسی کړی یاست، په تیره بیا د حنین( د غزا ) په ورځ، چې تاسو( د ثقیف او هوازن د مشرکو قبائلو د څلور زره کسیز لښکر سره مخامخ شوئ او) د خپل (دولس زره کسیز) لښکر د شمیر زیاتوالی ته خوښ او مغرور واست، خو( د شمیر زیاتوالی مو) د هیڅ درد دوا، نه شو، پراخه ځمکه درباندې راتنګه شوه او بالاخره بیرته په شا شوئ .

ثُمَّ أَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ وَعَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ وَأَنزَلَ
جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ۚ وَذَٰلِكَ جَزَآءُ
ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿٢٦﴾

بیا (په همدغه سخت او له اضطراب نه په ډک حالت کې) الله تعالی په پیغمبر او مؤمنانو باندې قلبی اطمینان او سکون نازل کړ( او د مرستې لپاره یې درته) داسې لښکر درواستاوه چې تاسو په سترګو نه لیده،( تاسو یې برلاسی کړئ) او کافران یې په سخت عذاب اخته کړل، همدغه وه( په دې دنیا کې) د کافرانو لپاره مناسبه سزا( او د آخرت مجازات یې لا هم پخپل ځای دی).

ثُمَّ يَتُوبُ ٱللَّهُ مِنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ ۗ وَٱللَّهُ غَفُورٌ
رَّحِيمٌ ﴿٢٧﴾

(له دغې پیښې نه وروسته بیا هم د جګړې له ډګر نه د تښتیدونکو مسلمانانو لپاره د توبې او جګړه کوونکو کافرانو لپاره د ایمان راوړلو دروازه خلاصه ده) چا ته چې الله تعالی اراده وکړی توبه یې قبلوی ځکه الله تعالی ښښونکی او مهربان ذات دی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡمُشۡرِكُونَ نَجَسٞ فَلَا يَقۡرَبُواْ
ٱلۡمَسۡجِدَ ٱلۡحَرَامَ بَعۡدَ عَامِهِمۡ هَٰذَاۚ وَإِنۡ خِفۡتُمۡ عَيۡلَةٗ
فَسَوۡفَ يُغۡنِيكُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦٓ إِن شَآءَۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ
حَكِيمٞ ٢٨

ای مؤمنانو! مشرکان نجس او ناپاکه دی نو له سږنی( نهم هجری) کال وروسته،( هیڅ یو مشرک مسجد حرام( او د هغه حدودو) ته داخلیدی نشی او که تاسو ویرېږی چې( په مشرکانو بانديز له امله) به د فقر او(تجارتی بازار له سړښت) سره مخامخ شی نو( باور ساتی چې) که د الله تعالی اراده وشی تاسو به پخپل فضل او مرحمت، بې نیازه او په ځان بسیا کړی. بیشکه چې الله تعالی په ټولو چارو پوه او د حکمت څښتن ذات دی( هر کار په مصلحت او تدبیر سره کوی او هیڅ حکم یې له حکمت نه خالی نه دی).

قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَلَا بِٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ
مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ ٱلۡحَقِّ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ
ٱلۡكِتَٰبَ حَتَّىٰ يُعۡطُواْ ٱلۡجِزۡيَةَ عَن يَدٖ وَهُمۡ صَٰغِرُونَ ٢٩

( ای مؤمنانو!اوس چې د مشرکانو مسأله فیصله شوه نو) د هغو اهل کتابو( یهودو او عیسویانو) په ضد وجنګیږی چې د الله تعالی( په وحدانیت) او د قیامت( په راتګ) ایمان نه راوړی، هغه څه حرام نه ګڼی چې الله تعالی او د هغه رسول حرام کړی او نه حق دین( اسلام)د خپل دین په حیث منی( نو ورسره وجنګیږی ترهغه چې شوکت او قوت یې مات او اسلامی دولت ته) تابع او پخپل لاس جزیه درکړی.

وَقَالَتِ ٱلْيَهُودُ عُزَيْرٌ ٱبْنُ ٱللَّهِ وَقَالَتِ ٱلنَّصَـٰرَى ٱلْمَسِيحُ
ٱبْنُ ٱللَّهِ ۖ ذَٰلِكَ قَوْلُهُم بِأَفْوَٰهِهِمْ ۖ يُضَـٰهِـُٔونَ قَوْلَ
ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِن قَبْلُ ۚ قَـٰتَلَهُمُ ٱللَّهُ ۚ أَنَّىٰ
يُؤْفَكُونَ ﴿٣٠﴾

یهودیان وایی چې عزیر د الله زوی دی او عیسایان وایی چې عیسی د الله زوی دی. دا تولې( بې دلیله او بې اساسه) خبرې دی چې د دوی له خولو راوزی او د هغو خلکو خبرو ته ورته دی چې لا پخوا یې( له حقایقو انکار کاوه) او کافران وو. الله تعالی دې دوی تباه کړی( او په دوی دې د الله تعالی لعنت وی) چې څنګه( له حق نه باطل ته)اوړی( او د توحید له روښنایی نه د کفر او شرک په تاریکیو ورننوزی) .

ٱتَّخَذُوٓا۟ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَـٰنَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ
وَٱلْمَسِيحَ ٱبْنَ مَرْيَمَ وَمَآ أُمِرُوٓا۟ إِلَّا لِيَعْبُدُوٓا۟
إِلَـٰهًا وَٰحِدًا ۖ لَّآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ سُبْحَـٰنَهُۥ عَمَّا
يُشْرِكُونَ ﴿٣١﴾

هغوی د الله تعالی په ځای، خپل عالمان او راهبان او عیسی ابن مریم، په ربوبیت او خدایی نیولی وو، په داسې حال کې چې( په تورات او انجیل کې ورته داسې کوم حکم نه دی شوی بلکه) یوازې د الله تعالی د واحد او لا شریک ذات د عبادت امر ورته شوی و، هغه ذات چې پاک او منزه دی د دوی له مشرکانه ادعاو څخه.

يُرِيدُونَ أَن يُطْفِـُٔوا۟ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفْوَٰهِهِمْ وَيَأْبَى ٱللَّهُ إِلَّآ أَن يُتِمَّ
نُورَهُۥ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴿٣٢﴾

دوی تل دا غواړی( چې پخپلو ناروا او بې اساسه تبلیغاتو سره) د الله تعالی د نور( اسلام) پلوشې خاموشه( او د پرمختیا مخه یې ونیسی) خو د الله تعالی قاطعانه اراده داده چې د خپل ( حق دین) نور به د اکمال تر درجو خپروی( او په وړانګو به یې ټوله نړۍ روښانه کوی) که څه هم کافران ورباندې له غمه زړه چاودی شی.

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى
ٱلدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡمُشۡرِكُونَ ٣٣

(الله تعالی) هغه ذات دی چې خپل پیغمبر یې له هدایت او حق دین سره خلکو ته واستاوه تر څو( د اسلام کامل دین) په ټولو ادیانو برلاسی کړی، که څه هم مشرکان ورباندې ناراضه او د غم په ټغر کښینی.

۞ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡأَحۡبَارِ وَٱلرُّهۡبَانِ
لَيَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ
ٱللَّهِۗ وَٱلَّذِينَ يَكۡنِزُونَ ٱلذَّهَبَ وَٱلۡفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي
سَبِيلِ ٱللَّهِ فَبَشِّرۡهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٖ ٣٤

ای د ایمان خاوندانو! بیشکه چې زیات شمیر( یهودی)عالمان او( عیسوی)راهبان، د خلکو مال او شتمنی په ناحقه( او نامشروع ډول) خوری او( د رشوتونو په مقابل کې الهی احکام بدلوی او خلک) د الله له لارې راګرځوی.( ای پیغمبره!) هغو کسانو ته چې سره او سپین زر راټولوی او د الله تعالی په لاره کی یې نه مصرفوی، د دردناک عذاب زیری (خبرداری) ورکړه.

يَوۡمَ يُحۡمَىٰ عَلَيۡهَا فِي نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكۡوَىٰ بِهَا جِبَاهُهُمۡ
وَجُنُوبُهُمۡ وَظُهُورُهُمۡۖ هَٰذَا مَا كَنَزۡتُمۡ لِأَنفُسِكُمۡ فَذُوقُواْ مَا
كُنتُمۡ تَكۡنِزُونَ ٣٥

هغه ورځ چې دغه( ذخیره شوې سکې) به د دوزخ په اور کې سرې شی او د دوی تندی، اړخونه او شاګانې به ورباندې داغل کیږی( او د توبیخ په توګه به ورباندې نارې وهل کیږی چې) دا ستاسو ذخیره شوی سرمایه ده نو اوس وڅکی د خپل احتکار او کنز مزه( سزا).

إِنَّ عِدَّةَ ٱلشُّهُورِ عِندَ ٱللَّهِ ٱثۡنَا عَشَرَ شَهۡرٗا فِي كِتَٰبِ ٱللَّهِ
يَوۡمَ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ مِنۡهَآ أَرۡبَعَةٌ حُرُمٞۚ ذَٰلِكَ
ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُۚ فَلَا تَظۡلِمُواْ فِيهِنَّ أَنفُسَكُمۡۚ وَقَٰتِلُواْ
ٱلۡمُشۡرِكِينَ كَآفَّةٗ كَمَا يُقَٰتِلُونَكُمۡ كَآفَّةٗۚ
وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿٣٦﴾

له هغې ورځې چې الله تعالی، آسمانونه او ځمکه ( کائنات)پیداکړې،( هر کال) د میاشتو شمیر د الله په کتاب (لوح محفوظ) کې دولس دی چې څلور( ذی القعده، ذی الحجه، محرم او رجب) پکې د حرام( ادب) میاشتې دی(چې جنګ جګړه پکې حرامه ده) او دغه( د جنګ تحریم د الله تعالی) ثابت او نه بدلیدونکی قانون دی، نو په دغه موده کې په ځانونو ظلم مه کوئ(له ګناهونو لیرې اوسئ او جنګ جګړو ته هم پکې جواز مه پیدا کوئ، خو که دښمن د متارکې قانون ماتوی او په تاسو حمله کوی نو تاسو هم د ځان دفاع وکړئ. ای مؤمنانو!) د مشرکانو په ضد هماغسې په ډله ایزه توګه وجنګیږئ لکه څنګه چې هغوی ستاسو په ضد په ډله ایزه توګه جنګیږی، او باور ساتئ چې الله تعالی د پرهیزګارانو ملګری او مرستندوی دی.

إِنَّمَا ٱلنَّسِيٓءُ زِيَادَةٞ فِي ٱلۡكُفۡرِۖ يُضَلُّ بِهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُحِلُّونَهُۥ
عَامٗا وَيُحَرِّمُونَهُۥ عَامٗا لِّيُوَاطِـُٔواْ عِدَّةَ مَا حَرَّمَ ٱللَّهُ فَيُحِلُّواْ مَا
حَرَّمَ ٱللَّهُۚ زُيِّنَ لَهُمۡ سُوٓءُ أَعۡمَٰلِهِمۡۗ وَٱللَّهُ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ
ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٣٧﴾

بیشکه چې نسیء( د حرام د میاشتو ټالول او د ترتیب ګډوډول) په کفر کې زیاتوالی دی او کافران (په دغه بدعت سره) لا پسې بې لارې کیږی. یو کال( د حرام میاشت) حلالوی( او جګړې پکې کوی) او بل کال( د حلال میاشت) حراموی، ترڅو د الله تعالی په حرامو کړی شویو میاشتو کې د خپلو خواهشاتو سره سم ادلون بدلون

راولی او د حرام د میاشتو( څلور شمیره)پوره کړی او په دې توګه هغه څه ځان ته حلالوی چې الله تعالی حرام کړی دی. د دوی ناوړه اعمال دوی ته په نظر کې ښه او معقول ښکاره شوی او الله تعالی هیڅکله کافران د هدایت په مستقیمه لاره نه برابروی.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَا لَكُمۡ إِذَا قِيلَ لَكُمُ ٱنفِرُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱثَّاقَلۡتُمۡ إِلَى ٱلۡأَرۡضِۚ أَرَضِيتُم بِٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مِنَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ فَمَا مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا قَلِيلٌ ٣٨

ای مؤمنانو! کله چې درته د الله تعالی په لارکې (د جهاد لپاره)د تللو امر کیږی، نو ولې دربانديې د سستی او کسالت خپسه کښیني (او د پاتې کیدو لپاره پلمې او عذرونه جوړوی)آیا د آخرت په ځای دنیا خوښوی؟ په داسې حال کې چې دنیوی ګټه د آخرت په نسبت ډیره بې ارزښته ده.

إِلَّا تَنفِرُواْ يُعَذِّبۡكُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا وَيَسۡتَبۡدِلۡ قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ وَلَا تَضُرُّوهُ شَيۡـٔٗاۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٌ ٣٩

که تاسو د الله په لاره کې و نه وځی، نو الله تعالی به مو په سخت عذاب اخته کړی،او بله ډله به ستاسو په ځای راولی( او په دې هم وپوهیږئ چې نافرمانی او له جهاد نه پاتې کید ل ستاسو پخپل زیان ده او) الله تعالی ته هیڅ زیان نشئ رسولی ځکه چې هغه په هر کار برلاسی او د طاقت خاوند دی.

إِلَّا تَنصُرُوهُ فَقَدۡ نَصَرَهُ ٱللَّهُ إِذۡ أَخۡرَجَهُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
ثَانِيَ ٱثۡنَيۡنِ إِذۡ هُمَا فِي ٱلۡغَارِ إِذۡ يَقُولُ لِصَٰحِبِهِۦ لَا
تَحۡزَنۡ إِنَّ ٱللَّهَ مَعَنَاۖ فَأَنزَلَ ٱللَّهُ سَكِينَتَهُۥ عَلَيۡهِ
وَأَيَّدَهُۥ بِجُنُودٖ لَّمۡ تَرَوۡهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ ٱلَّذِينَ
كَفَرُواْ ٱلسُّفۡلَىٰۗ وَكَلِمَةُ ٱللَّهِ هِيَ ٱلۡعُلۡيَاۗ وَٱللَّهُ
عَزِيزٌ حَكِيمٌ ٤٠

که تاسو د پیغمبر مرسته ونه کړئ نو الله تعالی د هغه مرسته کړې ده، هغه وخت چې کافرانو هغه( له مکې نه) وتلو ته اړ کړ، په داسې حال کې چې دی یو له دوو تنو څخه و، او دواړو ( د ثور) په سمڅه کې پناه واخسته ( ابوبکر سخت اندیښمن شو چې کیدی شی قریشیان راشی او پیغمبر ته صدمه ورسوی خو) پیغمبر خپل ملګری ته وویل: اندیښنه مه کوه، الله زمونږ سره دی( او مونږ به د کافرانو له هر شر او ضرر نه وساتی) نو الله پاک قلبی اطمینان په پیغمبر نازل کړ او په داسې لښکرو یې د هغه ملاتړ وکړ چې تاسو په سترګو نه لیدل، او ټیټ او بې ارزښته یې کړ د کافرانو شعار( شرک او کفر). او لوړ او برتر دی همدا د الله تعالی شعار( توحید او اسلام). او الله تعالی( د خپلو احکامو په انفاذ کې) تر ټولو پیاوړی او حکیم ذات دی( چې ټول اقدامات او احکام یې په پوره تدبیر او مصلحت ولاړ دی).

ٱنفِرُواْ خِفَافٗا وَثِقَالٗا وَجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِكُمۡ وَأَنفُسِكُمۡ فِي
سَبِيلِ ٱللَّهِۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٤١

بې له ځنډه له خپلو سپکو او درنو وسلو او تجهیزاتو سره (که سپاره یې که پیاده، سپین ږیری یئ که ځوانان،شتمن یئ که بې وزلی، په هر حال ټول د جګړې ډګر ته) ووزئ او پخپل سر او مال د الله تعالی په لار کې جهاد وکړئ( د عمومی لښکر کشئ د اعلان په مقابل کې هیڅ عذر او پلمه مه جوړوئ) . که په حقایقو( او خپله ګټه او تاوان) پوهیږئ نو دا ستاسو( د دنیا او آخرت) لپاره ډیره غوره ده.

لَوْ كَانَ عَرَضًا قَرِيبًا وَسَفَرًا قَاصِدًا لَّاتَّبَعُوكَ وَلَٰكِنۢ بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ
ٱلشُّقَّةُ ۚ وَسَيَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ لَوِ ٱسْتَطَعْنَا لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ
يُهْلِكُونَ أَنفُسَهُمْ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ ﴿٤٢﴾

(که ضعیف النفسه مسلمانانو او مسلمان ډوله منافقانو) کومه آسانه او بې تکلیفه ګټه او ولجه لیدلی، سفر هم آسان او لاره هم لنډه وی نو خامخا به ستاسره وتلی وی خو سخت او ستونزمن سفر ته یې ملا ماته ده او له همدې امله پرله پسې او په مکرره توګه په الله قسمونه خوری چې که توان او طاقت یې لرلی نو یقیناً چې ستاسره به تللی وی. په دې توګه ( په دروغو او تزویر) ځانونه تباه کوی او الله تعالی پوهیږی چې هغوی دروغ وایې.

عَفَا ٱللَّهُ عَنكَ لِمَ أَذِنتَ لَهُمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكَ ٱلَّذِينَ
صَدَقُوا۟ وَتَعْلَمَ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿٤٣﴾

الله دې تاته ښښنه وکړی، مخکې له دې چې د رښتیا ویونکو( رښتیا) درته ثابته شی او دروغجنان وپیژنې، ولې دې( د مینې او مهربانۍ له مخې) هغوی( جهاد ته له تللو) معاف کړل.

لَا يَسْتَـْٔذِنُكَ ٱلَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ أَن
يُجَٰهِدُوا۟ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلْمُتَّقِينَ ﴿٤٤﴾

څوک چې په الله او د قیامت په راتلو ایمان لری، هیڅکله ستا نه د پاتې کیدو او د مالی او ځانی جهاد نه معافیت نه غواړی( بلکه په هر ډول شرایطو کې د جګړې ډګر ته روانیږی) او الله تعالی پرهیزګاران ډیر ښه پیژنی.

إِنَّمَا يَسْتَـْٔذِنُكَ ٱلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْـَٔاخِرِ
وَٱرْتَابَتْ قُلُوبُهُمْ فَهُمْ فِى رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُونَ ﴿٤٥﴾

**يوازې هغه کسان ستا څخه( د پاتې کيدو) اجازه غواړی چې په الله او د قيامت په وقوع ايمان نه لری( او د الهی احکامو د تطبيق لپاره) زړه نازړه او په تردد کې لالهانده او سرګردانه دی.**

۞ وَلَوْ أَرَادُوا۟ ٱلْخُرُوجَ لَأَعَدُّوا۟ لَهُۥ عُدَّةً وَلَـٰكِن كَرِهَ ٱللَّهُ
ٱنۢبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيلَ ٱقْعُدُوا۟ مَعَ ٱلْقَـٰعِدِينَ ﴿٤٦﴾

**که هغوی جهاد ته د تللو لپاره پخه اراده درلودی نو ځانونه به يې په وسلو او نظامی وسايلو سمبال کړی وی، خو الله تعالی هم( د دوی کمزورو ارادو او نفاق ته په کتلو سره) د هغوی تلل خوښ نه کړل او ورته يې وويل:( له معذورانو او ښځو سره) په کورونو کې واړوی.**

لَوْ خَرَجُوا۟ فِيكُم مَّا زَادُوكُمْ إِلَّا خَبَالًا وَلَأَوْضَعُوا۟ خِلَـٰلَكُمْ
يَبْغُونَكُمُ ٱلْفِتْنَةَ وَفِيكُمْ سَمَّـٰعُونَ لَهُمْ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ
بِٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٤٧﴾

**که دوی ستاسو سره وتلی هم وی د شر او فساد او ستاسو ترمنځ د فتنې او بې اتفاقی اچولو او چغلی او خبرو وړو- راوړو نه غير به يې بل کار نه وی، په داسې حال کې چې ستاسو په ډله کې هم د هغوی د خبرو لپاره اوريدونکی ډير دی، او الله تعالی ظالمان او تيری کوونکی ډير ښه پيژنی.**

لَقَدِ ٱبْتَغَوُا۟ ٱلْفِتْنَةَ مِن قَبْلُ وَقَلَّبُوا۟ لَكَ ٱلْأُمُورَ حَتَّىٰ جَآءَ
ٱلْحَقُّ وَظَهَرَ أَمْرُ ٱللَّهِ وَهُمْ كَـٰرِهُونَ ﴿٤٨﴾

**له دې وړاندې هم( دغو منافقانو) ستاسو ترمنځ د فتنې او فساد د خپرولو ډيرې هڅې کړی او( د احد او خندق په جنګونو کی يې هم د پيغمبر او مؤمنانو او اسلام په ضد دسيسې او توطئې جوړولې) تر هغه چې حق دين (اسلام )برلاسی شو او ( ستاسو د بری او کاميابی لپاره ) د الله تعالی فرمان تطبيق او راڅرګند شو( او خلک ډله ډله په اسلام مشرف شول) سره له دې چې کافرانو وربانديې د سختې خواشينی او غم اوښکې تويولې.**

وَمِنْهُم مَّن يَقُولُ ٱئْذَن لِّى وَلَا تَفْتِنِّىٓ ۚ أَلَا فِى ٱلْفِتْنَةِ
سَقَطُوا۟ ۗ وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيطَةٌۢ بِٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿٤٩﴾

په منافقانو کې( د لوی منافق جد بن قیس) په شان کسان هم شته چې وايي: له روميانو سره له جګړې نه مې معاف کړه( او د رومی ښکلو او پی مخو نجونو)په فتنه او ازمیښت کې مې، مه غورزوه. ( ای پیغمبره!) وپوهیږه چې دوی په دغه ډول ناروا غوښتنو او له الهی حکم څخه په نافرمانۍ او سرغړونې سره هم په ګناه اخته شوی او بیشکه چې( د قیامت په ورځ) به دوزخ له کافرانو راچاپیره وی.

إِن تُصِبۡكَ حَسَنَةٞ تَسُؤۡهُمۡۖ وَإِن تُصِبۡكَ مُصِيبَةٞ يَقُولُواْ قَدۡ أَخَذۡنَآ أَمۡرَنَا مِن قَبۡلُ وَيَتَوَلَّواْ وَّهُمۡ فَرِحُونَ ٥٠

که( د جګړې په ډګر کې) تاته کومه ښیګڼه( فتحه او غنیمتونه) در په برخه شی، منافقین غمجن او اندیښمن وی او که زیان او صدمه درته ورسی نو په غرور سره وایی چې مونږ لا پخوا (په جګړه کې د نه ګډون لپاره) تصمیم نیولی او خپل کار مو جوړ کړی و. او( منافقین) په داسې حال کې ستا له مجلسه وځی چې( ستاسو په مصیبت) ښه خوشحاله دی .

قُل لَّن يُصِيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ مَوۡلَىٰنَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٥١

ورته ووایه هر خیر او شر چې مونږ ته رسی، الله تعالی راته لیکلی او مقدر دی، هماغه ذات زمونږ مرستندوی او سرپرست دی او مؤمنان باید یوازې په الله تعالی توکل وکړی.

قُلۡ هَلۡ تَرَبَّصُونَ بِنَآ إِلَّآ إِحۡدَى ٱلۡحُسۡنَيَيۡنِۖ وَنَحۡنُ نَتَرَبَّصُ بِكُمۡ أَن يُصِيبَكُمُ ٱللَّهُ بِعَذَابٖ مِّنۡ عِندِهِۦٓ أَوۡ بِأَيۡدِينَاۖ فَتَرَبَّصُوٓاْ إِنَّا مَعَكُم مُّتَرَبِّصُونَ ٥٢

زمونږ لپاره له دوو ښیګڼو څخه د یوې انتظار وکړئ( یا بریا او یا شهادت)او مونږ هم ستاسو لپاره( دوو مصیبتونو ته) سترګې په لار یو چې یا به له الهی عذاب( زلزلې، وبا او تندر) سره مخامخ شئ، او یا به هم زمونږ په لاسونو (وزورول شئ، یا به ووژل شئ، یا به تبعید او یا هم جزیې ورکولو ته اړ شئ) نو انتظار وباسئ او مونږ هم ستاسو سره منتظر یو.

قُلۡ أَنفِقُواْ طَوۡعًا أَوۡ كَرۡهٗا لَّن يُتَقَبَّلَ مِنكُمۡ إِنَّكُمۡ كُنتُمۡ قَوۡمٗا فَٰسِقِينَ ٥٣

(ای پیغمبره! هغو منافقانو په تیره بیا جد بن قیس ته چې د جهاد نه د پاتی کیدو او خپل نفاق د پټولو لپاره تاته مالی او نقدی مرسته وړاندې کوی) ووایه: ستاسو مرستې او بخششونه که په خوښه یې مصرفوئ که په ناخوښئ او کراهت، خو( د الله پاک په دربار کې) نه قبلیږی ځکه تاسو(له الهی احکامو سرغړوونکی) او فاسقان یئ.

وَمَا مَنَعَهُمۡ أَن تُقۡبَلَ مِنۡهُمۡ نَفَقَٰتُهُمۡ إِلَّآ أَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَبِرَسُولِهِۦ وَلَا يَأۡتُونَ ٱلصَّلَوٰةَ إِلَّا وَهُمۡ كُسَالَىٰ وَلَا يُنفِقُونَ إِلَّا وَهُمۡ كَٰرِهُونَ ٥٤

او د هغوی د انفاق د نه منلو دلیل دادی چې له الله او د هغه له رسول نه منکر دی، لمانځه ته په ناراستئ راځی او صدقې او بخششونه یې هم په کراهت( او صرف د تظاهر او ځان ښودنې لپاره) دی.

فَلَا تُعۡجِبۡكَ أَمۡوَٰلُهُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُهُمۡۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُعَذِّبَهُم بِهَا فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَتَزۡهَقَ أَنفُسُهُمۡ وَهُمۡ كَٰفِرُونَ ٥٥

د دوی مال او اولاد ته مه حیرانیږه، الله تعالی غواړی چې دوی په همدغو(مالونو او اولادونو سره) په دنیا کی وزوروی او سا وتنه یې هم د کفر په حال کی وی.

وَيَحۡلِفُونَ بِٱللَّهِ إِنَّهُمۡ لَمِنكُمۡ وَمَا هُم مِّنكُمۡ وَلَٰكِنَّهُمۡ قَوۡمٞ يَفۡرَقُونَ ٥٦

هغوی (په پوره بیشرمئ) د الله په ذات قسمونه خوری چې کاملاً ستاسو ملګری دی خو په حقیقت کې ستاسو ملګری نه،بلکه(ستاسو د ټینګ ایمان له امله) ستاسو نه په ویره ترهه کې ژوند کوی.

لَوۡ يَجِدُونَ مَلۡجَـًٔا أَوۡ مَغَـٰرَٰتٍ أَوۡ مُدَّخَلٗا لَّوَلَّوۡاْ إِلَيۡهِ وَهُمۡ
يَجۡمَحُونَ ٥٧

که کوم پناه ځای، غار یا سمڅه او یا فقط د سر سیوری پیدا کړی په منډه درنه تښتی او هم هلته پناه اخلی.

وَمِنۡهُم مَّن يَلۡمِزُكَ فِي ٱلصَّدَقَـٰتِ فَإِنۡ أُعۡطُواْ مِنۡهَا رَضُواْ وَإِن لَّمۡ
يُعۡطَوۡاْ مِنۡهَآ إِذَا هُمۡ يَسۡخَطُونَ ٥٨

ځینی یې د زکاتونو (په ویش او تصرف کې) تاته د اعتراض ګوته نیسی، که څه برخه ورکړی شی خوشاله دی او که بې برخی شی نو په قهر او غصه( کې سره - شنه) کیږی.

وَلَوۡ أَنَّهُمۡ رَضُواْ مَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَقَالُواْ حَسۡبُنَا ٱللَّهُ
سَيُؤۡتِينَا ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦ وَرَسُولُهُۥٓ إِنَّآ إِلَى ٱللَّهِ رَٰغِبُونَ ٥٩

د دوی لپاره به ځومره ښه وه، که د الله او رسول په ورکړه او تقسیم یې قناعت کړی وی او ویلی یې وی چې الله زمونږ لپاره کافی دی، الله تعالی به د خپل فضل له خزانو نه برخه راکړی او رسول به یې هم راسره مهربانی او لورینه وکړی، زمونږ هیله یوازې الله ته ده او د هغه ذات ته رجوع کوو.

۞ إِنَّمَا ٱلصَّدَقَـٰتُ لِلۡفُقَرَآءِ وَٱلۡمَسَـٰكِينِ وَٱلۡعَـٰمِلِينَ عَلَيۡهَا
وَٱلۡمُؤَلَّفَةِ قُلُوبُهُمۡ وَفِي ٱلرِّقَابِ وَٱلۡغَـٰرِمِينَ وَفِي سَبِيلِ ٱللَّهِ
وَٱبۡنِ ٱلسَّبِيلِۖ فَرِيضَةٗ مِّنَ ٱللَّهِۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ٦٠

له زکاتونه څخه فقیران( هغه کسان چې بې وزلی دی خو د خپل وقار او عزت له امله له خلکو مرسته نشی غوښتی) او مساکین( هغه بې وزلی چې له خلکو نه مرسته غواړی) او د زکات راټولوونکی او تقسیموونکی برخه اخستی شی او هم تری د مؤلفة القلوب( اسلام ته د خلکو د رغبت پیدا کولو او نویو ایمان راوړونکو لپاره )، د غلامانو د آزادولو، د پوروړو( زیان موندونکو تجارانو د پورونو د خلاصولو) د الله تعالی په لاره کې د مصارفو( چې ټولې خیریه او عام المنفعه چارې پکې شامل دی) او مسافرو لپاره( چې د سفر په ترڅ کې له اقتصادی ستونزو سره مخامخ شوی وی) د الله تعالی له لوری د ټاکل شویو برخو پحیث استفاده کولی شی، او الله تعالی په هر څه پوه او حکیم ذات دی.

وَمِنْهُمُ ٱلَّذِينَ يُؤْذُونَ ٱلنَّبِىَّ وَيَقُولُونَ هُوَ أُذُنٌۚ قُلْ أُذُنُ خَيْرٍ
لَّكُمْ يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِينَ وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِينَ ءَامَنُوا۟
مِنكُمْۚ وَٱلَّذِينَ يُؤْذُونَ رَسُولَ ٱللَّهِ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٦١﴾

**او ځيني منافقين لا هغه دی چې پيغمبر زوروی او وايی هغه خوش باوره سړی دی او هره خبره اوری او منی يې. ورته ووايه: هو، دا هم ستاسو د ښيګڼې او مصلحت لپاره ده( چې هره خبره اوری او باور پرې کوی). پيغمبر په الله تعالی ايمان لری او يوازې په مؤمنانو اعتماد او باور لری او په تاسو کې د ايمان راوړونکو لپاره رحمت دی، او د هغو کسانو لپاره چې د الله رسول زوروی، دردوونکی عذاب ليکل شوی دی.**

يَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ لَكُمْ لِيُرْضُوكُمْ وَٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَحَقُّ أَن
يُرْضُوهُ إِن كَانُوا۟ مُؤْمِنِينَ ﴿٦٢﴾

**دوی( په ريا او تزوير سره) د الله په نوم قسمونه خوری ترڅو تاسو خوشاله او( په دې قانع کړی چې دوی منافقان نه دی او کوم بد نيت يې په زړونو کې نشته) خو که دوی رښتينی مؤمنان وی نو بايد الله او رسول يې خوشاله کړی وی.**

أَلَمْ يَعْلَمُوٓا۟ أَنَّهُۥ مَن يُحَادِدِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَأَنَّ لَهُۥ نَارَ جَهَنَّمَ
خَٰلِدًا فِيهَاۚ ذَٰلِكَ ٱلْخِزْىُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٦٣﴾

**آيا په دې نه پوهيږی څوک چې له الله او د هغه له پيغمبر سره دښمنی او مخالفت وکړی، د دوزخ اور يې په برخه دی چې تل ترتله به پکې پروت وی او دا په حقيقت کې لويه رسوايې او شرمندګی ده.**

يَحْذَرُ ٱلْمُنَٰفِقُونَ أَن تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ سُورَةٌ تُنَبِّئُهُم بِمَا فِى
قُلُوبِهِمْۚ قُلِ ٱسْتَهْزِءُوٓا۟ إِنَّ ٱللَّهَ مُخْرِجٌ مَّا تَحْذَرُونَ ﴿٦٤﴾

**منافقان له دې هم په ويره کې دی چې کيدی شی د دوی په ضد کوم قرآنی سورة نازل شی او د هغوی ټول هغه اسرار( چې د الله تعالی، پيغمبر، مؤمنانو او اسلامی حکومت په خلاف يې په زړونو کې لری) خلکو ته بيان او**

راځرګند کړی. ورتهووایه چې ملنډې او مسخرو ته مو دوام ورکړی، الله تعالی به هغه( ټول اسرار) رابرسیره کړی چې( له راڅرګندیدو څخه یې)تاسو په ویره کی یاست.

وَلَئِن سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ ۚ قُلْ أَبِاللَّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ ﴿٦٥﴾

( تبوک ته د تللو په وخت کې ځینو منافقینو د دې لپاره چې د مسلمانانو په زړونو کې ویره او تردد وغورزوی په ټوکو او مسخرو سره ویل: محمد او بې سروسامانه ملګرو ته یې ګوری چې اوس د روم او شام د قصرونو د نیولو خوبونه وینې خو د روم د امپراتوری د منظمو قواو زور ورته معلوم نه دی چې ټول به ژوندی ونیسی.) که له دغو منافقینو نه د دوی ( د ناوړه ویناو او ملنډو ) په باب پوښتنه وکړې، نو بې درنګه به درته ووایی چې مونږ خو ټوکې او مسخرې کوو( او محض وخت تیروو). ورته ووایه آیا په الله او د هغه په آیتونو او رسول یې ملنډې او مسخرې کوی؟

لَا تَعْتَذِرُوا قَدْ كَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ ۚ إِن نَّعْفُ عَن طَائِفَةٍ مِّنكُمْ نُعَذِّبْ طَائِفَةً بِأَنَّهُمْ كَانُوا مُجْرِمِينَ ﴿٦٦﴾

( د خپلو ناوړو اعمالو او اقوالو لپاره) عذرونه او پلمې مه وړاندې کوی، حقیقت دادی چې تاسو له ایمان نه وروسته کافران شوی. اوس که مونږ ستاسو هغې ډلې ته( چې په پټو سترګو او ناپوهی سره یې د خپلو مشرانو پیروی کړی)ببښنه وکړو، نو بله ډله ځکه په سخت عذاب او سزا محکوموو( چې د منافقانه دسیسو او پلانونو طراحان او سرغنه دی او تل یې په اسلامی ټولنه کې) د جرمونو او فساد بازار تود ساتلی دی.

الْمُنَافِقُونَ وَالْمُنَافِقَاتُ بَعْضُهُم مِّن بَعْضٍ ۚ يَأْمُرُونَ بِالْمُنكَرِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمَعْرُوفِ وَيَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْ ۚ نَسُوا اللَّهَ فَنَسِيَهُمْ ۗ إِنَّ الْمُنَافِقِينَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿٦٧﴾

منافق نارینه او منافقې ښځې ټول سره د یو بل همکاران او مرستندویان دی، خلک ګناهونو او منکراتو ته هڅوی او له نیکو اعمالو یې راګرځوی او ( په خیرات او نفقه کې) سخت بخیل دی، الله تعالی یې هیر کړی او

الله تعالی هم دوی( له خپل رحمت او مهربانی نه) محروم کړی دی. بیشکه چې منافقان په حقیقت کې فاسقان دی.

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتِ وَٱلۡكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ هِيَ حَسۡبُهُمۡۚ وَلَعَنَهُمُ ٱللَّهُۖ وَلَهُمۡ عَذَابٞ مُّقِيمٞ ﴿٦٨﴾

الله تعالی منافقو نارینه و او منافقو ښځو ته د دوزخ د اور وعده ورکوی چې هلته به تل تر تله استوګن وی او همدغه سزا ورته پوره (او په حقه ده) د الله تعالی د لعنت وړ او له دردوونکی دایمی عذاب سره به هم مخامخ وی.

كَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ كَانُوٓاْ أَشَدَّ مِنكُمۡ قُوَّةٗ وَأَكۡثَرَ أَمۡوَٰلٗا وَأَوۡلَٰدٗا فَٱسۡتَمۡتَعُواْ بِخَلَٰقِهِمۡ فَٱسۡتَمۡتَعۡتُم بِخَلَٰقِكُمۡ كَمَا ٱسۡتَمۡتَعَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُم بِخَلَٰقِهِمۡ وَخُضۡتُمۡ كَٱلَّذِي خَاضُوٓاْۚ أُوْلَٰٓئِكَ حَبِطَتۡ أَعۡمَٰلُهُمۡ فِي ٱلدُّنۡيَا وَٱلۡأٓخِرَةِۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ ﴿٦٩﴾

تاسو(کافران او منافقان په کفر او نفاق کې) د پخوانیو په شان یاست، هغوی په زور او قوت، مال او اولاد کې ستاسو نه زیات وو. څومره چې هغوی ته مقدره وه له دنیوی لذتونو نه یې خپله برخه واخسته( او عاقبت یې هیڅ په نظر کې نه ساته) او تاسو هم ( له عاقبت نه بې خبره یې او د فانی) دنیا له لذتونو څخه مو چې څومره درته مقدره ده خپله برخه واخسته، لکه څنګه چې هغوی ترې ګټه اوچته کړې وه. او لکه څنګه چې هغوی په لذتونو او شهواتو کې ډوب وو، تاسو هم د هغوی په شان پکې ډوب شوی یی، دا ټول هغه کسان دی چې( له برکت او کرامت نه بې برخې شوی)، اعمال یې په دنیا او آخرت کې تباه او حقیقی زیان لیدونکی دی.

أَلَمْ يَأْتِهِمْ نَبَأُ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ
وَقَوْمِ إِبْرَٰهِيمَ وَأَصْحَٰبِ مَدْيَنَ وَٱلْمُؤْتَفِكَٰتِ ۚ أَتَتْهُمْ
رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ ۖ فَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن كَانُوٓا۟
أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٧٠﴾

آيا دوی ته د پخوانيو ولسونو حالات نه دی معلوم، د نوح د قوم، عاديانو او ثموديانو، د ابراهيم د قوم، د مدين د اصحابو، او( لوط د قوم) د لاندې باندې اړول شويو کليو او ښارونو تاريخ ورته مخې ته پروت نه دی، چې پيغمبران ورته له روښانه دلائلو او معجزاتو سره راغلل( خو دوی ونه منل او تکذيب يې کړل ) الله تعالی هيڅکله نه غوښتل چې په دوی ظلم وکړی( او نه چاته بې سببه سزا ورکړی) بلکه همدوی وو چې( په کفر او انکار سره يې) پخپلو ځانونو ظلم او تيری کاوه.

وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ يَأْمُرُونَ
بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ
وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَيُطِيعُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ ۚ أُو۟لَٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ
ٱللَّهُ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٧١﴾

مؤمنان نارينه او مؤمنانې ښځې، سره دوستان او يو د بل مرستندوی دی،( خلک) نيکو چارو ته هڅوی او له ګناهونو او منکراتو نه يې منع کوی. لمونځونه اداء کوی، زکاتونه ورکوی او( د ژوند په ټولو چارو کې) د الله او د هغه د پيغمبر اطاعت او مننه کوی. بيشکه چې الله تعالی به دوی پخپل رحمت ونازوی ځکه الله تعالی پياوړی قوت او د حکمت ښتن ذات دی.

وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا
ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا وَمَسَٰكِنَ طَيِّبَةً فِى جَنَّٰتِ عَدْنٍ ۚ
وَرِضْوَٰنٌ مِّنَ ٱللَّهِ أَكْبَرُ ۚ ذَٰلِكَ هُوَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٧٢﴾

**الله تعالی له ایماندارو نارینه و او مؤمنو ښځو سره د هغو جنتونو وعده کوی چې( د ګڼو ګورو ونو او قصرونو) لاندې به يې( د الهی نعمتونو) ویالې روانې وی، دوی به پکې تل تر تله استوګن وی، په ابدی سمسورو جنتونو کې د ښکلو قصرونو وعده هم ورسره شته خو له دغو ټولو نه لوی او معظم نعمت، د الله تعالی دایمی رضا او خوښی ده. رښتیا چې دا تر ټولو لویه بریا او لویه نیکمرغی ده.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِىُّ جَٰهِدِ ٱلْكُفَّارَ وَٱلْمُنَٰفِقِينَ وَٱغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۚ
وَمَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٧٣﴾

**ای پیغمبره! د کافرانو او منافقانو په ضد( په هر ډول وسایلو او امکاناتو سره چې مصلحت يې ایجابوی) جهاد پیل کړه او له دوی سره له سختې رویې او شدت نه کار واخله( ځکه دوی د تبوک د جګړې په وخت په پوره بې حیایۍ سره د اسلام سره خپله دښمنی ښکاره کړه او ثابته شوه چې په ښو اخلاقو او وعظ او نصیحت لارې ته نه راځی او باید په وړاندې يې سخت دریځ غوره شی). د دوی استوګنځای دوزخ دی او رښتیا چې دوزخ د ورتګ لپاره تر ټولو بد ځای دی.**

يَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ مَا قَالُوا۟ وَلَقَدْ قَالُوا۟ كَلِمَةَ ٱلْكُفْرِ وَكَفَرُوا۟
بَعْدَ إِسْلَٰمِهِمْ وَهَمُّوا۟ بِمَا لَمْ يَنَالُوا۟ ۚ وَمَا نَقَمُوٓا۟ إِلَّآ أَنْ أَغْنَىٰهُمُ ٱللَّهُ
وَرَسُولُهُۥ مِن فَضْلِهِۦ ۚ فَإِن يَتُوبُوا۟ يَكُ خَيْرًا لَّهُمْ ۖ وَإِن يَتَوَلَّوْا۟ يُعَذِّبْهُمُ
ٱللَّهُ عَذَابًا أَلِيمًا فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ ۚ وَمَا لَهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ مِن وَلِىٍّ
وَلَا نَصِيرٍ ﴿٧٤﴾

پرله پسې قسمونه خوری( چې د اسلام او پیغمبر په ضد یې ناروا او سپکه ژبه نه ده کارولې) په داسې حال کې
چې کفری ویناوی یې کړی او له اسلام راوړلو نه وروسته کافران شوی،او( له تبوک نه د راستنیدلو په وخت
یې د پیغمبر د وژلو) خائنانه اقدام ته هم ملا تړلې وه چې خپل شوم هدف ته ونه رسیدل.( که څه هم) الله
تعالی او رسول یې پخپل فضل او مرحمت سره، دوی شتمن او په خیټه ماړه کړل، خو دوی یې( د منني او شکر
په ځای) د دښمنۍ او عناد لاره ونیوه.( البته له دې ټولو ناروآو سره سره، اوس هم) که دوی توبه وکړی
ورته غوره ده او که مخ وګرځوی، الله تعالی به ورته په دنیا او آخرت کې دردوونکی عذاب ورکړی( او د عذاب
نه د نجات لپاره به) په ځمکه کې هیڅ ملګری او مرستندوی ونه مومی.

۞ وَمِنْهُم مَّنْ عَٰهَدَ ٱللَّهَ لَئِنْ ءَاتَىٰنَا مِن فَضْلِهِۦ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٧٥﴾

یو شمیر منافقانو له الله تعالی سره وعده کړې وه چې که فضل او مرحمت وربانديې ولوروی نو هم به صدقې
او خیراتونه کوی او هم به د نیکانو او صالحانو په حیث ژوند غوره کړی.

فَلَمَّآ ءَاتَىٰهُم مِّن فَضْلِهِۦ بَخِلُوا۟ بِهِۦ وَتَوَلَّوا۟ وَّهُم مُّعْرِضُونَ ﴿٧٦﴾

خو کله چې الله تعالی دوی له خپل فضل نه برخمن کړل ( نو د انفاق په ځای) یې بخل پیل ، او (له حق نه) په
انحراف سره ( له خپلو وعدو) په شا شول .

فَأَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِى قُلُوبِهِمْ إِلَىٰ يَوْمِ يَلْقَوْنَهُۥ بِمَآ أَخْلَفُوا۟ ٱللَّهَ مَا وَعَدُوهُ وَبِمَا كَانُوا۟ يَكْذِبُونَ ﴿٧٧﴾

الله تعالی هم ورته د دغو وعده خلافیو او دروغو په سزا کې داسې نفاق په زړونو کې وروغورزاوه چې تر
قیامته به وربانده مسلط وی.

أَلَمْ يَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوَىٰهُمْ وَأَنَّ ٱللَّهَ عَلَّٰمُ ٱلْغُيُوبِ ﴿٧٨﴾

آیا ( وعده ماتوونکی) په دې نه دی پوه چې الله تعالی د دوی په پټو خبرو او پلانونو ډیر ښه خبریږی او الله
تعالی ته ټول اسرار ډیر ښه معلوم دی.

ٱلَّذِينَ يَلۡمِزُونَ ٱلۡمُطَّوِّعِينَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ فِي
ٱلصَّدَقَٰتِ وَٱلَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهۡدَهُمۡ فَيَسۡخَرُونَ مِنۡهُمۡ
سَخِرَ ٱللَّهُ مِنۡهُمۡ وَلَهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٌ ٧٩

کوم منافقان چې د پیغور او ملامتۍ ګوته نیسی، هغو مؤمنانو ته( چې د فرضی زکات نه علاوه په خپله خوښه او رغبت) مستحب صدقات هم ورکوی او هغو ته( هم پیغورونه ورکوی چې د بې وزلۍ له امله ) د خپل وس او طاقت په حدودو کې صدقې او خیراتونه کوی، الله تعالی به دغو (ملنډو وهونکو او پیغور ورکوونکو) ته سخته سزا ورکړی او په دردناک عذاب به یې اخته کړی.

ٱسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ أَوۡ لَا تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ إِن تَسۡتَغۡفِرۡ لَهُمۡ سَبۡعِينَ مَرَّةً فَلَن
يَغۡفِرَ ٱللَّهُ لَهُمۡۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَفَرُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦۗ وَٱللَّهُ لَا
يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡفَٰسِقِينَ ٨٠

د دغو( ملنډو وهونکولپاره) ستا ښښنه غوښتل او نه غوښتل، دواړه یو شان دی. که ته د هغوی لپاره اویا ځله هم ښښنه وغواړې، الله تعالی ورته ښښنه نه کوی ځکه دوی د الله تعالی او پیغمبر نه انکار کړی او الله تعالی هیڅکله هم فاسقان او سرغړوونکی په مستقیمه لار نه روانوی.

فَرِحَ ٱلۡمُخَلَّفُونَ بِمَقۡعَدِهِمۡ خِلَٰفَ رَسُولِ ٱللَّهِ وَكَرِهُوٓاْ أَن
يُجَٰهِدُواْ بِأَمۡوَٰلِهِمۡ وَأَنفُسِهِمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَقَالُواْ لَا تَنفِرُواْ فِي ٱلۡحَرِّۗ قُلۡ
نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرّٗاۚ لَّوۡ كَانُواْ يَفۡقَهُونَ ٨١

(د تبوک له جګړې نه) پاتې شوی کسان په دې ډیر خوښ دی چې د رسول الله د امر په خلاف، پخپلو کورونو کې پاتې شوی او د الله په لار کې،له مالی او ځانی جهاد نه هم کرکه کوی او( مؤمنانو ته) وایی چې په دې ګرمۍ کی جهاد ته مه ځۍ. ورته ووایه: د دوزخ اور په تودوخه کې له دې نه ډیر سخت او سوزوونکی دی خو که تاسو وپوهیږۍ.

فَلۡيَضۡحَكُواْ قَلِيلٗا وَلۡيَبۡكُواْ كَثِيرٗا جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٨٢

نو پرېږده (چې په دې دنيا کې په مؤمنانو باندې) لږشان وخاندي خو ( په آخرت کې به بيا)د خپلو اعمالو په سزا ډېر ډېر وژاړي.

فَإِن رَّجَعَكَ ٱللَّهُ إِلَىٰ طَآئِفَةٍ مِّنْهُمْ فَٱسْتَـْٔذَنُوكَ لِلْخُرُوجِ فَقُل لَّن تَخْرُجُوا۟ مَعِىَ أَبَدًا وَلَن تُقَـٰتِلُوا۟ مَعِىَ عَدُوًّا ۖ إِنَّكُمْ رَضِيتُم بِٱلْقُعُودِ أَوَّلَ مَرَّةٍ فَٱقْعُدُوا۟ مَعَ ٱلْخَـٰلِفِينَ ﴿٨٣﴾

نو کله چې ته، الله تعالی( د تبوک له جهادی سفر نه) د هغوی هغې ډلې ته راستون کړې( چې بې له معقول عذره له جهاد نه پاتې شوی او اوس راتلونکې بله جګړې ته) د وتلو لپاره، له تا اجازه غواړی، ورته ووايه: هيڅکله زما سره (جګړې ته) وتلی نشی او نه له کوم دښمن سره د جنګيدو لپاره زما د ملګرتيا وياړ در په برخه کيدی شی،ځکه تاسو لومړی ځل (د جهاد په پرېښودو او) په کورونو کې په پاتې کيدو خوښ واست، اوس هم په کورونو کې، له پاتې شويو سڅو( ماشومانو او ناروغانو سره) کښينی.

وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰٓ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِۦٓ ۖ إِنَّهُمْ كَفَرُوا۟ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَمَاتُوا۟ وَهُمْ فَـٰسِقُونَ ﴿٨٤﴾

ای پيغمبره! د هغوی د هيڅ يوه تن د جنازې لمونځ مه اداء کوه او د قبر په سر يې د دعا لپاره هم مه ودرېږه، ځکه دوی د الله او د هغه د رسول په مقابل کې کفر غوره کړی او د فاسقانو په ډله کې له دنيا نه رخصت شوی دی.

وَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَٰلُهُمْ وَأَوْلَـٰدُهُمْ ۚ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ أَن يُعَذِّبَهُم بِهَا فِى ٱلدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنفُسُهُمْ وَهُمْ كَـٰفِرُونَ ﴿٨٥﴾

د دوی مال او اولاد ته هم مه حيرانيږه( دا د دوی د نيکمرغی نښې نه دی بلکه) الله تعالی غواړی دوی په دنيا کې( د مال په راټولولو او اولادونو په لوبولو او خوشاله ساتلو کې دومره مصروف او) په عذاب اخته کړی( چې آخرت يې هير شی) او بيا ترې د کفر په حال کې ساګانې وباسی ( او د دنيا او آخرت زيانمن شی) .

وَإِذَآ أُنزِلَتْ سُورَةٌ أَنْ ءَامِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَجَـٰهِدُوا۟ مَعَ رَسُولِهِ ٱسْتَـْٔذَنَكَ أُو۟لُوا۟ ٱلطَّوْلِ مِنْهُمْ وَقَالُوا۟ ذَرْنَا نَكُن مَّعَ ٱلْقَـٰعِدِينَ ﴿٨٦﴾

او کله چې د کوم قرآنی سورة په نزول سره (خلکو ته) امر وشی چې په الله تعالی ایمان راوړئ او د هغه د رسول په ملګرتیا کې جهاد وکړئ، نو( منافق مشران او) ثروتمندان ستا نه معافی غواړی او وایی: پرېږده چې مونږ پخپلو کورونو کې( له ښځو سره ) پاتې شو.

رَضُواْ بِأَن يَكُونُواْ مَعَ ٱلْخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ ﴿٨٧﴾

هغوی په دې خوښ دی چې په کور ناستو( ښځو او معذورانو ) سره پاتې شی، په زړونو یې( د بدبختی او نفاق ) مهرونه وهل شوی او( د فی سبیل الله جهاد ښیګڼې) نشی درک کولی( او نه دغه بې غیرتی او نامردی د ځان لپاره عار ګڼی چې د مسلمانانو په دې عمومی لښکر کشۍ کې برخه نه اخلی او له ښځو سره په کورونو کې پاتې کېږی) .

لَٰكِنِ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ جَٰهَدُواْ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ ۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلْخَيْرَٰتُ ۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُفْلِحُونَ ﴿٨٨﴾

خو پیغمبر او هغه کسان چې له ده سره یې ایمان راوړی،( د الله تعالی د رضا او اسلام د برترئ لپاره) د سرونو او مالونو په قربانولو سره د جهاد په ډګر کې ولاړ دی او همدوی دی چې( د دنیا او آخرت) ټولې ښیګڼې ورپه برخه دی او بریمن او کامیاب دی.

أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ ذَٰلِكَ ٱلْفَوْزُ ٱلْعَظِيمُ ﴿٨٩﴾

الله تعالی د هغوی لپاره داسې جنتونه ساتلی چې( د شنو ونو او قصرونو) لاندی یې (د نعمتونو) رودونه روان دی، تل ترتله به هلته اوسی، همدا ده لویه بریا او نیکمرغی.

وَجَآءَ ٱلۡمُعَذِّرُونَ مِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ لِيُؤۡذَنَ لَهُمۡ وَقَعَدَ ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ
ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۚ سَيُصِيبُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡهُمۡ عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٩٠﴾

**(ای پیغمبره!) ځینې بانده چې عربان تاته راځی( او دروغجن عذرونه درته وړاندې کوی، تر څو یې له جهاد نه معاف کړې) او هغه کسان چې له الله او د هغه له رسول سره یې دروغ ویلی، هم( بې له کوم عذره او بې ستا له اجازې پخپلو کورونو کې) کیناستل( دوی ټول باید وپوهیږی چې) ډیر زر به الله تعالی کافرانو ته دردناک عذاب ورکړی.**

لَّيۡسَ عَلَى ٱلضُّعَفَآءِ وَلَا عَلَى ٱلۡمَرۡضَىٰ وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ لَا
يَجِدُونَ مَا يُنفِقُونَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُواْ لِلَّهِ وَرَسُولِهِۦۚ مَا عَلَى
ٱلۡمُحۡسِنِينَ مِن سَبِيلٖۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٩١﴾

**په کمزورو او ناروغانو او هغو کسانو (چې په جهاد کې) د صدقه کولو او مصرفولو لپاره څه نه لری، هیڅ ګناه نشته( که په جهاد کې برخه وانخلی) په دې شرط چې له الله او د هغه له رسول سره نیک نیت او اخلاص ولری( او د مجاهدینو ملاتړ وکړی). هو، په نیکو کارو( معذورانو) هیڅ مواخذه او ګناه نشته او الله تعالی ډیر زیات ببنونکی او مهربان ذات دی.**

وَلَا عَلَى ٱلَّذِينَ إِذَا مَآ أَتَوۡكَ لِتَحۡمِلَهُمۡ قُلۡتَ لَآ أَجِدُ مَآ
أَحۡمِلُكُمۡ عَلَيۡهِ تَوَلَّواْ وَّأَعۡيُنُهُمۡ تَفِيضُ مِنَ ٱلدَّمۡعِ حَزَنًا أَلَّا
يَجِدُواْ مَا يُنفِقُونَ ﴿٩٢﴾

**او نه په هغو کسانو( کومه ګناه او مواخذه شته) چې تاته راغلل( او جهاد ته د تللو لپاره یې درنه) د سپرلۍ هیله وکړه خو تا ورته وویل: سپرلۍ نه لرم چې تاسو د جګړې ډګر ته ورسوی. دوی په داسې حال کې بیرته ستانه شول چې له سترګو یې د غم او افسوس اوښکې روانې وی او په دې غمجن وو چې د نفقې( او جنګی مصارفو) لپاره څه نه لری.**

۞ إِنَّمَا ٱلسَّبِيلُ عَلَى ٱلَّذِينَ يَسْتَـْٔذِنُونَكَ وَهُمْ أَغْنِيَآءُ ۚ
رَضُوا۟ بِأَن يَكُونُوا۟ مَعَ ٱلْخَوَالِفِ وَطَبَعَ ٱللَّهُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا
يَعْلَمُونَ ﴿٩٣﴾

د اعتراض ګوته يوازې په هغه چا ايښودل کيږی چې د ټولو مصارفو وس او طاقت لری خو بياهم د پاتې کيدو اجازه غواړی او په دې خوشحاله دی چې د ښځو په ډله کی پاتې شی. الله پاک د دوی په زړونو( د بدبختۍ) مهرونه وهلی او له همدی امله په دې هم نه پوهيږی (چې له خپله لاسه ځانونه د عذاب منګولو ته سپاری).
===================

يَعْتَذِرُونَ إِلَيْكُمْ إِذَا رَجَعْتُمْ إِلَيْهِمْ ۚ قُل لَّا تَعْتَذِرُوا۟ لَن نُّؤْمِنَ
لَكُمْ قَدْ نَبَّأَنَا ٱللَّهُ مِنْ أَخْبَارِكُمْ ۚ وَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمْ
وَرَسُولُهُۥ ثُمَّ تُرَدُّونَ إِلَىٰ عَـٰلِمِ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَـٰدَةِ
فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٩٤﴾

(لکه چې تبوک ته ستاسو د تللو په وخت کې يې حيلې او پلمې جوړولې) اوس چې تاسو بيرته( مدينې منورې ته) راوګرځئ نو دوی به( په غزا کې د خپل نه ګډون له امله) عذرونه وړاندې کوی.ورته ووايه عذرونه مه راوړاندې کوئ، مونږ هيڅکله په تاسو باور، نه کوو ځکه چې الله تعالی ستاسو له خيانتونو خبر کړی يو. اوس به الله او د هغه رسول ستاسو کړنو ته ګوری( چې تر کومه حده پخپلو ادعاو کې رښتينې ياست، بيا( به د يوې ټاکلې مودې په سرته رسيدو) د هغه ذات حضور ته ورګرځئ چې په پټو او ښکاره اعمالو پوهيږی (او هر لوی او وړوکی عمل به مو درته مخې ته کيږدی او حساب کتاب به درسره وکړی).

سَيَحْلِفُونَ بِٱللَّهِ لَكُمْ إِذَا ٱنقَلَبْتُمْ إِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُوا۟ عَنْهُمْ ۖ
فَأَعْرِضُوا۟ عَنْهُمْ ۖ إِنَّهُمْ رِجْسٌ ۖ وَمَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا۟
يَكْسِبُونَ ﴿٩٥﴾

ستاسو له راستنیدو سره سم به هغوی( د خپلو معذرتونو د معقولیت لپاره) قسمونه پیل کړی تر څو یې له ګناه ورتیرشی، خو تاسو ترې مه خوشحالیږئ (بلکه ځانونه ترې ساتئ) ځکه دوی پلید خلک دی( او نیتونه یې پاک نه دی) او د پرله پسې خیانتونو له امله یې ځای دوزخ دی.

يَحْلِفُونَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا۟ عَنْهُمْ ۖ فَإِن تَرْضَوْا۟ عَنْهُمْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا
يَرْضَىٰ عَنِ ٱلْقَوْمِ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿٩٦﴾

دوی ستاسو د خوشحالولو او راضی کولو لپاره سوګندونه خوری، خو که تاسو له دوی خوشحاله هم شئ، یقیناً چې الله تعالی به هیڅکله له (هغه) فاسق قوم نه راضی نشی (چې تل یې د الله له دین سره دښمنی کړې او له الهی احکامو نه باغیان دی).

ٱلْأَعْرَابُ أَشَدُّ كُفْرًا وَنِفَاقًا وَأَجْدَرُ أَلَّا يَعْلَمُوا۟ حُدُودَ مَآ أَنزَلَ
ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٩٧﴾

د ( جزیرة العرب) بانډه چیان( د علم، تمدن او بصیرت نه د لیرې والی له امله) په کفر او نفاق کې( له ښاریانو نه) ډیر سخت سری دی او حق یې دی چې په هغو دینی احکامو ونه پوهیږی چې الله تعالی خپل پیغمبر ته نازل کړی او بیشکه چې الله تعالی (د انسانی ټولنې د بیلابیلو پرګنو په لیاقتونو او استعدادونو) ډیربښه پوه او حکمت لرونکی ذات دی( او د هر چا په باب به د هغه د لیاقت او مصلحت مطابق د پوره پوهې او حکمت په رڼا کې فیصله کوی).

وَمِنَ ٱلْأَعْرَابِ مَن يَتَّخِذُ مَا يُنفِقُ مَغْرَمًا وَيَتَرَبَّصُ بِكُمُ ٱلدَّوَآئِرَ ۚ
عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ ٱلسَّوْءِ ۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿٩٨﴾

او په بانډه چیانو کې داسې کسان هم شته ( چې د الله په لار کې) نفقې او خیراتونه، په ځان باج او تاوان ګڼی
او ستاسو لپاره د زمانې آفتونه او مصیبتونه غواړی. همدوی دې په مصیبتونو اخته شی، او الله تعالی(د هرچا
د اقوالو) ډیر ښه اوریدونکی او( په ټولو پیښو او حوادثو) ډیر ښه باخبره او پوه ذات دی.

وَمِنَ ٱلۡأَعۡرَابِ مَن يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِ وَيَتَّخِذُ
مَا يُنفِقُ قُرُبَٰتٍ عِندَ ٱللَّهِ وَصَلَوَٰتِ ٱلرَّسُولِۚ أَلَآ إِنَّهَا قُرۡبَةٞ لَّهُمۡۚ
سَيُدۡخِلُهُمُ ٱللَّهُ فِي رَحۡمَتِهِۦٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ٩٩

او (په جزیرة العرب) کې ځینې بانډه چیان داسې دی چې په الله تعالی او د قیامت په راتلو ایمان لری او خپلې
نفقې او صدقات، الله تعالی ته د نږدیوالی او د پیغمبر د دعاګانو د ترلاسه کولو وسیله ګڼی، بیشکه همدغه
صدقات، الله او رسول ته د دوی د تقرب لار ده او الله تعالی به یې ډیر زر خپل رحمت ته داخل کړی، بې له شکه
چې الله تعالی ډیر زیات ښښونکی او مهربان ذات دی.

وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلۡأَوَّلُونَ مِنَ ٱلۡمُهَٰجِرِينَ وَٱلۡأَنصَارِ وَٱلَّذِينَ
ٱتَّبَعُوهُم بِإِحۡسَٰنٖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُ وَأَعَدَّ لَهُمۡ
جَنَّٰتٖ تَجۡرِي تَحۡتَهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۚ ذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ
ٱلۡعَظِيمُ ١٠٠

الله تعالی له لومړنیو مهاجرینو( چې په هجرت کی یې د سبقت او اولیت مقام ترلاسه کړی) او انصارو( چې د
مهاجرینو سره په مرستو او اعانت کې یې د تقدم او اولیت افتخار ګټلی) او له هغو کسانو څخه چې په اخلاص
او صداقت سره یې د اسلام د دغو رهبرانو پیروی کړې، ډیر زیات خوښ دی او دوی هم له الله تعالی نه راضی
دی. د دوی لپاره هغه جنتونه تیار شوی( چې د شنو ونو او قصرونو) لاندې یې( د الهی نعمتونو) ویالې روانې
دی او دوی به هلته د تل لپاره استوګن وی او دا په حقیقت کې ډیره لویه بریا ده.

وَمِمَّنْ حَوْلَكُم مِّنَ ٱلْأَعْرَابِ مُنَٰفِقُونَ ۖ وَمِنْ أَهْلِ ٱلْمَدِينَةِ ۖ
مَرَدُوا۟ عَلَى ٱلنِّفَاقِ لَا تَعْلَمُهُمْ ۖ نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ۚ سَنُعَذِّبُهُم مَّرَّتَيْنِ ثُمَّ
يُرَدُّونَ إِلَىٰ عَذَابٍ عَظِيمٍ ﴿١٠١﴾

ستاسو په شاوخوا چاپېریال کې اوسیدونکی بانډه چیان او د مدینې ځینې اوسیدونکی له نفاق سره دومره روږدی او معتاد شوی او دومره پکې ټینګ او ماهر دی چې ته یې( له خبرو او نښو څخه) نشې پېژندلی خو مونږ یې پیژنو او زر ده چې دوه ګونی عذاب به یې په برخه شی( یو په دنیا او بل په قبر او عالم برزخ کې) او وروسته به( د جهنم ) لوی عذاب ته وسپارل شی.

وَءَاخَرُونَ ٱعْتَرَفُوا۟ بِذُنُوبِهِمْ خَلَطُوا۟ عَمَلًا صَٰلِحًا وَءَاخَرَ سَيِّئًا عَسَى ٱللَّهُ
أَن يَتُوبَ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٠٢﴾

او نور بیا هغه کسان دی چې پخپلو ګناهونو یې اعتراف کړی( په تیره بیا د تبوک له غزا نه په پاتې کیدو پښیمانه دی) او ورسره یې نیک عملونه هم کړی( او د لمونځونو اوعباداتو نه علاوه، صدقات او زکاتونه هم ورکوی) نو امید دی چې الله تعالی یې توبه قبوله کړی ځکه الله تعالی ( د خطاياو) ښښونکی او( په توبه کوونکو) مهربان ذات دی.

خُذْ مِنْ أَمْوَٰلِهِمْ صَدَقَةً تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيهِم بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ۖ إِنَّ
صَلَوٰتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ ۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٠٣﴾

د هغوی د مال نه زکات واخله( چې مالونه او نفسونه یې ورباندې) پاک شی او د زکات اخستلو په وخت کې ورته دعا وکړه ځکه ستا دعا د هغوی لپاره د ډاډ او اطمینان وسیله ده.او الله تعالی( د ټولو اقوالو) ښه اوریدونکی او( په ټولو احوالو) عالم ذات دی.

أَلَمْ يَعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ هُوَ يَقْبَلُ ٱلتَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِۦ وَيَأْخُذُ ٱلصَّدَقَٰتِ
وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٠٤﴾

آیا دغه( توبه کوونکی) نه پوهیږی چې الله تعالی هغه یوازینی ذات دی چې د خپلو بندګانو د توبې او صدقاتو قبلولو واک او صلاحیت لری( او په دې ښه پوهیږی چې څوک د زړه د اخلاصه توبه وباسی او صدقه ورکوی)او الله تعالی یوازینی توبه قبلوونکی او رحم کوونکی ذات دی.

وَقُلِ ٱعۡمَلُواْ فَسَيَرَى ٱللَّهُ عَمَلَكُمۡ وَرَسُولُهُۥ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۖ وَسَتُرَدُّونَ إِلَىٰ
عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ ١٠٥

او دوی ته ووایه( چې په توبه او صدقاتو سره ستاسو تیر تقصیرات وبښل شول) اوس خپلو اعمالو ته دوام ورکړئ، بیشکه چې الله تعالی او د هغه رسول او مؤمنان ستاسو کړنې وینی( او وبه لیدل شی چې تاسو تر کومه د صدق او استقامت عملی ثبوت وړاندی کوئ) او زر ده چې د هغه ذات( الله تعالی) حضور ته وروګرځئ چې له پټو او ښکاره اسرارو مو ډیر ښه خبر دی او ستاسو د ټولو اعمالو نتایج به درته مخې ته کیږدی.

وَءَاخَرُونَ مُرۡجَوۡنَ لِأَمۡرِ ٱللَّهِ إِمَّا يُعَذِّبُهُمۡ وَإِمَّا يَتُوبُ عَلَيۡهِمۡۗ وَٱللَّهُ
عَلِيمٌ حَكِيمٞ ١٠٦

(او د تبوک له غزا نه د بل پاتې شوی درې کسیز جماعت) سرنوشت، د الله تعالی تر راتلونکی حکم پورې وځنډید،( تر راتلونکو څو ورځو پورې به یې) یا د عذاب حکم صادر او یا به یې توبه قبوله کړی شی، بیشکه چې الله تعالی په ټولو چارو پوه او حکیم ذات دی.

وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مَسۡجِدٗا ضِرَارٗا وَكُفۡرٗا وَتَفۡرِيقَۢا بَيۡنَ
ٱلۡمُؤۡمِنِينَ وَإِرۡصَادٗا لِّمَنۡ حَارَبَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ مِن قَبۡلُۚ
وَلَيَحۡلِفُنَّ إِنۡ أَرَدۡنَآ إِلَّا ٱلۡحُسۡنَىٰۖ وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّهُمۡ لَكَٰذِبُونَ ١٠٧

او هغو کسانو چې( د منافقت او تزویر له مخې یې) مسجد ضرار جوړ کړی او هدف یې د مؤمنانو تر منځ بی اتفاقی اچول او( د ابو عامر الراهب) لپاره چې لا پخوا هم د الله او رسول په ضد جنګیدلی و، مورچل برابرول دی.که څه هم دوی قسمونه خوری چې له خیر نه غیر مو بله اراده نشته، خو الله تعالی ګواهی ورکوی چې دوی بیشکه دروغجنان دی.

لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًا ۚ لَّمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَىٰ مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَن
تَقُومَ فِيهِ ۚ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُوا ۚ وَاللَّهُ يُحِبُّ
الْمُطَّهِّرِينَ ﴿١٠٨﴾

( ای پیغمبره د عبادت او لمانځه لپاره) هیڅکله په دغه( مسجد ضرار) کې مه ودرېږه. بیشکه هغه جومات( مسجد قبا) چې له لومړۍ ورځې د تقوا په بنسټ جوړ شوی( او د جوړیدونکو هدف یې) د الهی رضا لاسته راوړل دی ستا د( لمانځه او عبادت لپاره) وړ او غوره ځای دی، هلته داسې ( لمونځ کوونکی شخصیتونه دی چې غواړی( خپل ځانونه له هر ډول ظاهری او باطنی نجاستونو او ګناهونو او شرارتونو نه) پاک وساتی نو ځکه خو الله تعالی هم له دغو طهارت خوښوونکو سره مینه کوی.

أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ تَقْوَىٰ مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ أَم
مَّنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ ۗ
وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿١٠٩﴾

آیا د هغه کس( کار) ډیر ښه دی چې ودانۍ( یا دین یې) د تقوا او الهی رضا د لاسته راوړلو( او طاعت او عبادت) په بنسټ ولاړ دی، او که د هغه کس کار( ښه دی) چې د ودانۍ( یا عقیدې) بنسټ یې( لرزیدونکی او) د یوې نړیدونکې کندې په څنډه ولاړ دی چې له راغورځیدو سره سم به یې دی د دوزخ په اور کې پریوزی ، او الله تعالی هیڅکله ظالمان د هدایت په لاره نه برابروی.

لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِي بَنَوْا رِيبَةً فِي قُلُوبِهِمْ إِلَّا أَن تَقَطَّعَ
قُلُوبُهُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١١٠﴾

د دوی جوړه کړې ودانۍ به د تل لپاره د دوی په زړونو کې د شک او تردید وسیله وی، تر هغه چې زړونه یې( په مرګ) ټوټه ټوټه شی او الله تعالی په ټولو چارو پوه او د حکمت لرونکی ذات دی.

۞ إِنَّ ٱللَّهَ ٱشۡتَرَىٰ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَنفُسَهُمۡ وَأَمۡوَٰلَهُم بِأَنَّ
لَهُمُ ٱلۡجَنَّةَۚ يُقَٰتِلُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيَقۡتُلُونَ وَيُقۡتَلُونَۖ
وَعۡدًا عَلَيۡهِ حَقّٗا فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ وَٱلۡقُرۡءَانِۚ وَمَنۡ
أَوۡفَىٰ بِعَهۡدِهِۦ مِنَ ٱللَّهِۚ فَٱسۡتَبۡشِرُواْ بِبَيۡعِكُمُ ٱلَّذِي بَايَعۡتُم بِهِۦۚ
وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ١١١

**بيشکه چې الله تعالی له مؤمنانو څخه د دوی ځانونه او مالونه په بيه اخستی او په بدل کې يې ورته جنت ورکړی.( مؤمنان) د الله تعالی په لاره کې جهاد کوی،(کافران) وژنی او دوی هم( د الله په لاره کې) وژل کيږی.( له هغوی سره د جنت وعده) هغه رښتينی او ټينګه وعده ده چې په تورات، انجيل او قرآن کې ياده شوې او څوک دی چې په عهد او پيمان کې، له الله تعالی نه زيات وفادار وی؟( بلکه هيڅوک نشته، نو ای مؤمنانو!)په خپله دغه راکړه ورکړه خوښ او خوشحاله اوسئ او همدا لويه بريا او نيکمرغی ده.**

ٱلتَّٰٓئِبُونَ ٱلۡعَٰبِدُونَ ٱلۡحَٰمِدُونَ ٱلسَّٰٓئِحُونَ
ٱلرَّٰكِعُونَ ٱلسَّٰجِدُونَ ٱلۡأٓمِرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ
وَٱلنَّاهُونَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَٱلۡحَٰفِظُونَ لِحُدُودِ ٱللَّهِۗ وَبَشِّرِ
ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ١١٢

**(دغه مؤمنان الله تعالی ته) توبه کوونکی، عبادت کوونکی، ثنا ويونکی، روژه نيوونکی، رکوع کوونکی، سجده کوونکی، ښو چارو ته رابلونکی او له بدو راګرځوونکی او د الهی حدودو او مقرراتو ساتونکی دی او( ای پيغمبره!) مؤمنانو ته( د الهی رحمت او رضوان) زيری ورکړه.**

مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَن يَسْتَغْفِرُوا۟ لِلْمُشْرِكِينَ وَلَوْ
كَانُوٓا۟ أُو۟لِى قُرْبَىٰ مِنۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُمْ أَصْحَٰبُ
ٱلْجَحِيمِ ١١٣

**پیغمبر او مؤمنانو ته نه ښایي چې د مشرکانو لپاره د مغفرت دعا وکړی که څه هم خپلوان یې وی، خو چې ورته ثابته وی چې هغوی دوزخیان دی( او د کفر په حال کې مړه دی).**

وَمَا كَانَ ٱسْتِغْفَارُ إِبْرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَن مَّوْعِدَةٍ وَعَدَهَآ
إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُۥٓ أَنَّهُۥ عَدُوٌّ لِّلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ ۚ إِنَّ إِبْرَٰهِيمَ لَأَوَّٰهٌ
حَلِيمٌ ١١٤

**او د خپل پلار د مغفرت لپاره د ابراهیم دعا یوازې د هغې وعدې په اساس وه چې له هغه سره یې کړې وه( او ورته یې ویلی وو چې که له مرګ نه وړاندې له بت پرستۍ نه توبه وباسې نو زه به ستا لپاره له الله تعالی نه مغفرت وغواړم) خو کله چې (ابراهیم) ته ثابته شوه چې پلار یې( د مرګ تر وخته) د الله تعالی دښمن( او د کفر او شرک په حال کې له دنیا نه تللی) نو بیزاری یې ترې اعلان کړه، بیشکه چې ابراهیم (الله تعالی ته) ډیر زیات تضرع کوونکی او صابر او متحمل شخصیت و.**

وَمَا كَانَ ٱللَّهُ لِيُضِلَّ قَوْمًۢا بَعْدَ إِذْ هَدَىٰهُمْ حَتَّىٰ يُبَيِّنَ لَهُم
مَّا يَتَّقُونَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ١١٥

**او الله تعالی( د خپل عدالت او حکمت په اساس) هیڅ یو هدایت کړی شوی قوم، نه بې لارې کوی (او نه ورته سزا ورکوی) تر هغه چې ټول نواهی او محرمات ورته تشریح( او حجت ورباندې تمام کړی( خو دوی بیاهم د الله له اوامرو نه تخلف او نافرمانی وکړی او د سزا مستحق شی.) بیشکه چې الله تعالی په ټولو چارو پوه ذات دی.**

إِنَّ ٱللَّهَ لَهُۥ مُلۡكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ يُحۡيِۦ وَيُمِيتُۚ وَمَا لَكُم مِّن
دُونِ ٱللَّهِ مِن وَلِيّٖ وَلَا نَصِيرٖ ١١٦

د آسمانونو او ځمکې مالکیت او سلطنت یوازې د الله تعالی دی، ژوند او مرګ د هغه په واک کې دی او ستاسو لپاره د الله تعالی نه غیر، نه کوم کار جوړوونکی شته او نه مرستندوی او ملاتړی.

لَّقَد تَّابَ ٱللَّهُ عَلَى ٱلنَّبِيِّ وَٱلۡمُهَٰجِرِينَ وَٱلۡأَنصَارِ
ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ ٱلۡعُسۡرَةِ مِنۢ بَعۡدِ مَا كَادَ يَزِيغُ
قُلُوبُ فَرِيقٖ مِّنۡهُمۡ ثُمَّ تَابَ عَلَيۡهِمۡۚ إِنَّهُۥ بِهِمۡ رَءُوفٞ
رَّحِيمٞ ١١٧

حقیقت دا دی چې الله تعالی په پیغمبر باندې د خپل خاص او ځانګړی رحمت لورینه وکړه او هم یې په هغو مهاجرینو او انصارو مهربانی وکړه چې( د تبوک د غزا ) په سختو شیبو کی یې د پیغمبر پیروی کړې وه، داسې سختې شیبې چې نږدې وه( د سفری ستونزو او کړاوونو له امله ) د مؤمنانو د یوې ډلې زړونه( له حق نه) منحرف شوی وی( او له نیمې لارې بیرته مدینې ته راګرځیدلی وی خو بیا یې له تردد او بې زړه توب نه توبه وویسته ) نو الله تعالی د دوی توبه قبوله کړه ځکه چې الله پاک په دوی ډیر زیات مهربان او د رحمت څښتن دی.

وَعَلَى ٱلثَّلَٰثَةِ ٱلَّذِينَ خُلِّفُواْ حَتَّىٰٓ إِذَا ضَاقَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلۡأَرۡضُ بِمَا
رَحُبَتۡ وَضَاقَتۡ عَلَيۡهِمۡ أَنفُسُهُمۡ وَظَنُّوٓاْ أَن لَّا مَلۡجَأَ مِنَ ٱللَّهِ إِلَّآ
إِلَيۡهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيۡهِمۡ لِيَتُوبُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ١١٨

او په هغو دریو کسانو( یې هم د رحمت لورینه وکړه چې په هغو دغو بهانو او پلمو د تبوک له غزا نه ) پاتې شوی وو( او ټولو مسلمانانو د پیغمبر په لارښوونه له هغوی سره اړیکی پری کړې وې) تر دې چې ځمکه

**وربانديِ د پراختيا سره سره تنګه شوه( او د وجدانى غم او تاثر له امله يې) زړونه سخت تنګ او په دې پوه شوى وو چې د الله تعالى له قهر نه د نجات لپاره، د الله تعالى نه غير، د پناه اخستلو بله مرجع نه لرى( نو الله تعالى د خاصې مهربانۍ له مخې) په هغوى رحم وکړ، تر څو توبه وباسى، بيشکه چې الله تعالى توبه منونکى او مهربان ذات دى.**

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَكُونُوا۟ مَعَ ٱلصَّـٰدِقِينَ ﴿١١٩﴾

**اى د ايمان خاوندانو! له الله تعالى نه وويريږئ او( په وينا او عمل کې) له صادقانو سره ملګرى شئ.**

مَا كَانَ لِأَهْلِ ٱلْمَدِينَةِ وَمَنْ حَوْلَهُم مِّنَ ٱلْأَعْرَابِ أَن يَتَخَلَّفُوا۟ عَن
رَّسُولِ ٱللَّهِ وَلَا يَرْغَبُوا۟ بِأَنفُسِهِمْ عَن نَّفْسِهِۦ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ لَا
يُصِيبُهُمْ ظَمَأٌ وَلَا نَصَبٌ وَلَا مَخْمَصَةٌ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا
يَطَـُٔونَ مَوْطِئًا يَغِيظُ ٱلْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُونَ مِنْ عَدُوٍّ نَّيْلًا
إِلَّا كُتِبَ لَهُم بِهِۦ عَمَلٌ صَـٰلِحٌ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ
ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿١٢٠﴾

**د مدينې او شاوخوا سيمو اوسيدونکو بانډه چيانو ته نه ښايى چې( د مقدس جهاد په سختيو او کړاوونو کې) له رسول الله نه شاته پاتې شى او د ځان ساتنه او امنيت د پيغمبر په امنيت باندې مقدم وګڼى، دا ځکه څومره تنده ، ستړيا او لوږه چې دوى ته د الله تعالى په لارکې وررسيږى او په هر ځاى او سيمه(چې په پياده او سپاره ډول) قدمونه ږدى او د کافرانو قهر او غضب راپاروى، او هر څه چې دوى له دښمن نه لاسته راوړى( ماتې ورکوئ، ژوندى يې نيسى او غنيمتونه ترې تر لاسه کوى) په مقابل کې ورته يو نيک عمل ليکل کيږى، بيشکه چې الله تعالى د نيکانو هيڅ عمل نه ضايع کوى.**

وَلَا يُنفِقُونَ نَفَقَةً صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً وَلَا يَقْطَعُونَ وَادِيًا
إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ ٱللَّهُ أَحْسَنَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿١٢١﴾

او( د حق د لارې مجاهدین) چې هره کوچنۍ او لویه نفقه د الله تعالی په لار کې وړاندې کوی او هره( لوړه) ژوره ځمکه( چې د جهادی سفر په تګ راتګ کې له پښو تیروی، نو د هغوی د نیکو اعمالو په دوسیه کې ثبت کیږی ترڅو ورته الله پاک د ښو کړنو، ښه بدله ورکړی.

۞ وَمَا كَانَ ٱلْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا۟ كَآفَّةً ۚ فَلَوْلَا نَفَرَ مِن كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَآئِفَةٌ لِّيَتَفَقَّهُوا۟ فِى ٱلدِّينِ وَلِيُنذِرُوا۟ قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوٓا۟ إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ﴿١٢٢﴾

مؤمنانو ته لازمه نه ده چې( هرې غزا ته) ټول له یوې مخې ووځی.ولې له هرې ډلې( قوم او قبیلې څخه) د ټاکلو کسانو یو ټولی مؤمنان د دینی علومو د زده کړې لپاره نه ځی؟ چې په دین کې پوهه ترلاسه کړی او په بیرته راتګ سره خپل قوم( د الله تعالی د نافرمانی د ناوړو عواقبو څخه) وویروی تر څو ترې ځانونه وساتی.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ قَـٰتِلُوا۟ ٱلَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ ٱلْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوا۟ فِيكُمْ غِلْظَةً ۚ وَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلْمُتَّقِينَ ﴿١٢٣﴾

ای مؤمنانو! له هغو کافرانو سره چې ستاسو سره( نږدې) اوسیږی وجنګیږئ او هغوی باید په( جنګ کې) له تاسو نه شدت( قهر، جرأت، ثبات او میرانه) ووینی او وپوهیږی چې د الله تعالی( حفاظت او مرسته) له پرهیزګارانو سره مل ده ( نو هیڅکله له کافرانو، مه ویریږئ او خپل ځانونه د هغوی په وړاندې ټیټ او حقیر مه ګڼئ).

وَإِذَا مَآ أُنزِلَتْ سُورَةٌ فَمِنْهُم مَّن يَقُولُ أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَـٰذِهِۦٓ إِيمَـٰنًا ۚ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ فَزَادَتْهُمْ إِيمَـٰنًا وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ ﴿١٢٤﴾

او کله چې( د مبارک قرآن)کوم نوی سورة نازل شی( نو یو شمیر منافقان په ټوکو او مسخرو سره نورو ته مخ واړوی او) ورته وایی دې سورة ستاسو د کوم یو تن ایمان زیات او پیاوړی کړ؟ خو واقعیت دادی چې د هر سورت نزول یوازې د مؤمنانو ایمان تازه کوی او د خوښی او نیکمرغی احساسات یې ورباندې لاپسې پیاوړی کیږی.

وَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ فَزَادَتۡهُمۡ رِجۡسًا إِلَىٰ رِجۡسِهِمۡ
وَمَاتُواْ وَهُمۡ كَٰفِرُونَ ﴿١٢٥﴾

**خو هغه کسان چې زړونه يې( د نفاق، کفر او شک) په رنځ اخته دی( د قرآن د هر سورة له نازليدو سره يې د کفر او عناد) خباثت او رنځ لا نور هم زيات شی او بالاخره ترې همدغه رنځ سا وباسی او د کفر په حال کې يې له دنيا رخصت کړی.**

أَوَلَا يَرَوۡنَ أَنَّهُمۡ يُفۡتَنُونَ فِي كُلِّ عَامٖ مَّرَّةً أَوۡ مَرَّتَيۡنِ
ثُمَّ لَا يَتُوبُونَ وَلَا هُمۡ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٢٦﴾

**آيا (منافقان) نه وينی چې هر کال، يو يا دوه ځل( او لا زيات) له ډول ډول ازميښتونو( قحط، رنځونو او نورو ارضی او سماوی مصيبتونو او آفتونو) سره مخامخ کيږی خو، نه توبه وباسی او نه عبرت اخلی.**

وَإِذَا مَآ أُنزِلَتۡ سُورَةٞ نَّظَرَ بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٍ هَلۡ يَرَىٰكُم
مِّنۡ أَحَدٖ ثُمَّ ٱنصَرَفُواْۚ صَرَفَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُم بِأَنَّهُمۡ قَوۡمٞ لَّا
يَفۡقَهُونَ ﴿١٢٧﴾

**او کله چې د قرآن کوم سورة نازليږی، نو ( منافقين) يو بل ته پټ پټ ګوری او وايی: ګوری چا خو به ليدلی نه ياست او بيا (هر يو د پيغمبر له مجلس نه پښې سپکوی او) وځی. الله تعالی د دوی زړونه (له حق نه) اړولی ځکه خو د جهل او حماقت په وجه د پيغمبر وعظ او نصيحت اوريدلو ته تيار نه دی.**

لَقَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ مِّنۡ أَنفُسِكُمۡ عَزِيزٌ عَلَيۡهِ مَا
عَنِتُّمۡ حَرِيصٌ عَلَيۡكُم بِٱلۡمُؤۡمِنِينَ رَءُوفٞ
رَّحِيمٞ ﴿١٢٨﴾

**بيشکه چې ستاسو له جنس نه، تاسو ته پيغمبر راغلی چې ستاسو هر تکليف او کړاوورباندې سخت او درووند تماميږی، ستاسو نيکمرغۍ( او هدايت) ته ډير زيات ليوال او په مؤمنانو باندې زړه سواند او مهربان دی( آسان او بې تکلفه دين يې ورته راوړی، هيڅکله يې په مؤمنانو باندې سخت احکام نه دی تحميل کړی او**

**مسلمانو چارواکو ته هم توصیه کوی چې: تیسروا ولا تعسروا« یعني په خلکو آسانی راولئ او سختی ورسره مه کوئ»).**

فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقُلۡ حَسۡبِيَ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُۖ وَهُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿١٢٩﴾

**(نو ای پیغمبره!) که دا خلک له ایمان راوړلو نه مخ وګرځوی( او ستا د دې بې ساری شفقت او زړه سواندئ قدر او احترام و نه کړی) ورته ووایه:( هیڅ پروا نشته) الله تعالی زما لپاره پوره او کافی دی، له هغه نه غیر، نه څوک د عبادت او بندګئ وړ دی (او نه د توکل او اعتماد). یوازې په همدغه ذات توکل کوم. هغه چې( د آسمانونو او ځمکې او ټولو کائناتو د پراخ او لایتناهی سلطنت او) د ستر او عظیم ( شاهنشاهی تخت) عرش مالک او ټولواک ذات دی.**

**تمت سورة التوبة بفضل الله و رحمته والحمد لله رب العالمين**

**====================**